# انسان په فاصله د انسان



Pukhto.Net

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انسان په فاصله د انسان

افسانې (چاپ ۲۰۰۸)

صابر شینواری

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان په فاصله د انسان .صابر شینواری (افسانې)

## فهرست


1. آرمان
2. ریالسټ
3. همدردي
4. مساوات
5. العیاذ بالله
6. زاویه دنظر
7. انسان په فاصله د انسان
8. مشیني دور انسان چرته بیایي
9. ذکر د ځمکې
10. حاجت
11. تعلیم ښه شی دی
12. تالاب
13. انسان نما
14. کاروبار


Pukhto.Net پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**آرمان ——— لنډه کیسه**

یوه ورځ داسې چل وشو چې په لاره مې یوه جینۍ خوښه شوه. د هغې لوړ قد او ښکلی رنګ ددې قابل وو چې سړی دې ورپسې شي. هغه مخکې وه او زه شاته. لږ چې وړاندې لاړو نو هغه پوه شوه چې دا ابن سبیل خو په ما پسې راروان دی.

"تاوه شه ګڼې دکاندارانو ته وایم"...

ما چې دا ټپه واوریده نو پښو مې کار پریښوده او سر راباندې تاو شو. زه دې ناڅاپي ګوذار ته هیڅ تیار نه وم او نه مې د دومره حسینې جینۍ نه ددې طمع لرله. لږه شیبه وروسته ما خپل خور شوی وجود راټول کړ او بیا ورپسې شوم.

"ډیره ښائسته یې ———— ټیلیفون نمبر ————"

په دې وخت کې هغې ټیلیفون راوویست او غوږ ته یې ونیو-- ما سوچ وکړ چې اوس دې په چا دربوي --- تښته ګڼې لاړې په ځان مرګې کې. ولاکه دې څوک پوښتنه هم وکړي چې څوک مړ دی او ولې مړ دی."

ما زر لاره بدله کړه او په بله کوڅه ننوتم. ما نه هغې ته په زړه کې کوم غلط خیال راوستی وو او الله شاهد دی چې زه په هغې باندې د زړه د تله مئین شوی وم. خو اوس دا هرڅه اوبو وړي وواو ما سره د خپل ځان د خلاصي غم وو.

څه وخت چې تیر شو نو جینۍ ظالمه بیا رایاده شوه. هغې په ما داسې جادو کړی وو چې زما په رګ رګ کې یې د مینې احساس راپارولی وو. داسې ښکاریده لکه په پردې جنګ کې چې د ماشوم د ګوتو نه د مور لاس خوشې شوی وي او کلونه پس یې د خپلې کوڅې نښې نښانې ذهن ته راغلي وي. ما چې هر څو ځان ټینګ کړ خو ونه شوه او ناڅاپه مې په خپل آرمان پسې منډه کړه او په لاره کې د هر قسم خطر نه بې پروا په هغې پسې لاړم.

زه دومره تیز روان وم چې د ښار په دې تنګه کوڅه کې به ډیرو ته اړم شوی یم او ډیر به ماته لړم شوي وي. خو ما سره دومره موقع نه وه چې زه دې د هر لاروي عملنامه وګورم او پوه شم چې ولې لاره نه راکوي او جینۍ ته په رسیدو کې د دوی څه تاوان دی !!!

لږ مخکې چې لاړم نو ګورم چې جینۍ موټر ته وخته او کور ته یې د تلو اراده ده. ما چې دا منظره ولیده نوخپل ټول کارونه مې یوې خواته کړل او منډه مې کړه ګاډي ته وختم. په ګاډي کې ځای نه وو او یواځې ددې د څنګ سیټ خالي وو. زه په یو دوه کې حیران شوم چې اوس څه وکړم. که ودریږم ستړی کیږم او که د جینۍ سره په خوا کې کښینم نو ټوله دنیا اوړ اخلي.

زما مجبوري داده چې له ډیره وخته په کور کې یوې حسینې نازنینې میرمن ته ضرورت لرم چې زما کور ته خوشحالي راوړي او زما دا ستړی وجود لږ په دمه شي.

ډیر وخت وشو چې زما د کور په شاوخوا کې حالات ښهٔ نه دي او خپلو پردو پکې غوبل جوړ کړی دی او اثر یې زما په کور کې محسوسیږي. خدای خبر ولې ماته داسې ښکاري چې همدغه یوه جینۍ زما د ټولو دردونو او ستونزو حل دی او د همدغې محترمې کمی دی چې زه داسې پریشانه یم او سرګردانه یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخر د جینۍ کور رارورسیده او ګاډی د هغې په غوښتنه ودریده. هغه چې کوزیده ، نو زه هم ورسره کوز شوم او روان شوم. زما سترګو چې کار شروع کړ نو ګورم چې د هغې کور د یو اورد میدان په هغه بل سر کې دی او د لارې دواړو غاړو ته شنو وښو د هغې د ګاونډیانو له پاره د ماذیګري د ناستې ښه دمه ځای جوړ کړی وو. زه حیران شوم چې دا ولس څه کارروزګار هم لري او که نه همدلته ناست دي او د جینۍ حفاظت کوي.

ما ډیرې منډې وکړې خو جینۍ مې په نصیب نه شوه . څه د خپل ښار خلکو زما کار خراب کړ او څه د هغې ګاونډیانو زه هغې ته پرېښودم. الله دې دواړه تباه کړي. زه د دواړو نه خفه یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ریالسټ**

جنرل موریسن هم عجیبه سړی و. په یو وخت کې پکې ځو بې‌لابېل صفتونه راټول شوي وو. هغه یو بردبار ، وجیه او دلچسپ سړی و. د دومره دولت سره سره پکې د کبر او غرور څه نښه نه لیدل کېده. سړی د هغه سره په صحبت کې نه تنګېده. د هغه د کار دفتر د سپر ستار واین کلب تر څنګه واقع و. زما او د هغه د پېژندنې سبب د هغه یواځینۍ لور باربرا موریسن وه. د باربرا د پښتو ادب سره مینه وه او غوښتل یې چې د پښتو او پښتنو په باره کې معلومات لاسته راوړي. نن سبا د همدې مجبوریت له مخې دلته راغلې وه او ما سره یې ملاقات شوی و. هغه زما د معلوماتو نه متاثره شوه او د بې‌رته تګ په وخت یې ماته هم لندن ته د تلو بلنه راکړه. او دا دی صرف دوه میاشتې پس پسې زه هم لندن ته راغلم.

لندن زما د توقع نه زیات ښکلی ثابت شو. ټکسي زه د باربرا د کور مخ ته کوز کړم. کور څه و سم شاهي محل و او په وسیعه احاطه خور و. هغه زما په ناڅاپي راتلو ډېره خوشحاله شوه او دا یې یو سرپرایز وګڼلو. لږه شېبه وروسته جنرل موریسن هم راغی. هغه ماته د هرکلي په وخت نوم واخیست او په ګرمجوشۍ سره یې زما هرکلی وکړ. څه شېبه پس یې ما سره زما د شاعرۍ په هکله خبرې پېل کړې. زه پوه شوم چې باربرا زما په هکله ډېر څه ورته ویلي دي. د خبرو په ترځ کې زه په دې ورسېدم چې موریسن یو زمانه ساز شاعر او صاحبِ طرز ادیب دی.

د چای څښلو نه وروسته موټر دریواړه راووتو او تر ماښامه آخوا دېخوا وګرځېدو. چې کور ته راغلو نو د موریسن د مازغو نه لا د شعروشاعرۍ خبره نه وتلې. هغه ما سره نږدې کښېناست. زما لاس یې په خپل لاس کې ونیو او ویې ویل: "ته ریالیزم خوښوې او که رومېنټك جذبات؟" ما جواب ورکړ: "زه مشرقي سړی یم خامخا به ریالسټ یم. رنګیني او نمایش د مغرب کار دی".

هغه په قهقهه وخندل او ویې ویل:"ګوره صاحبه! دا صحیح ده چې موږ د ریالیزم نه انکار نه شو کولی خو رومانیت هم د ژوند یو دروند اړخ دی چې په شاعرۍ کې باید ښه په شدومد څرګند شي".

"-هغه هسې خیالي خبرې دي او د ژوند په کومه لحظه کې په کار نه راځي. زه د ادب د پاره د ژوند د نظریې قایل یم. شعر د ټولنې عکاس پکار دی".

"-درسته ده خو زه وایم چې یو شاعر ادیب په خوله وایي یو څه ، او کوي بل څه نو دا هم ښه نه ده".

ما په پوره زعم وویل: "زه چې د ریالیزم نه ډکه شاعري کوم ګو شاعري به مې لږه شډله وي خو ما ټولې د کار خبرې کړې. په خپل ژوند کې تل د ښځو سره د مینې ، بې ځایه خوندونو او آواره ګرځېدو نه لیرې پاتې شوی یم".

"-سمه ده ماته خوب راغی. ته هم ویده شه سبا به خبرې کوو".

د جنرل د وتلو نه وروسته باربرا راغله. د سلام نه وروسته یې وویل: "زه همدې ته منتظره وم چې جنرل ووځي او زه راشم. څه چې بهر ځو".

دواړه راووتو. باربرا خپل موټر د یو نایټ کلب په احاطه کې ودرولو او کلب ته ننوتو. ژوند دلته بل ډول و. شباب شباب و او د هر شي نه دولت او مستي څڅېده. مخامخ هال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بی‌لاب‌ی‌لې جوړې په رقص بوختې وې. ما هم باربرا د لاس نه ونیوه او په رقص مو شروع وکړه. رقص دومره خوند راکړ چې باربرا مې په غېږه کې ټینګه کړه او تر خپله وسه مې وزب‌ی‌ښله. ما او هغې په یو بل د بوسو باران وکړ.

ما د باربرا په فرمایش مشروبات څکل او شا او خوا د ناستو منتخبو حسیناوو د لغړو پښو او نورو قابلِ دید حصو نه محظوظ ل‌ی‌دم. داسې ښکلې جینکۍ د سړکونو په سر ډېرې کمې لیدل ل‌ی‌ږي. بِل باربرا آداء کړ او د شپې دوه نیمې بجې د کلب نه راووتو. بهر چې راغلو نو سترګې مې ن‌ی‌غ په ن‌ی‌غه راتلونکو رڼاګانو وبرېښولې. د سړک په غاړه هم ښه ګڼه ګوڼه وه. دې ش‌ی‌به کې زما مزغو کار پرېښود. د سړك د بلې غاړې نه جنرل اوږده اوږده قدمونه اخیستل او زمونږ خوا ته راروان و. زما په بدن کې وینه وچه شوه. مونږ سترې مشې وکړه او د باربرا سره په موټرکار کې کور ته راغلو. په ټوله لار هغه هیڅ ونه ویل یواځې یې د ځان سره په سترګو کې اشارې کولې او په ل‌ی‌مو کې یې خندل.

هغه زه ډراینګ روم ته راوستم او تر څنګه یې کښ‌ی‌نولم. زما لاسونه یې په خپلو لاسونو کې ونیول او ویې ویل: "ګوره صاحبه! کلب هم د رومان او رنګینۍ یو نماینده ځای دی چې نن ته ورغلی وې".

زما په ستوني کې آواز ونښت او په ټیټ آواز مې وویل:

"دا نن زه هسې غلط شوی وم. زه خو د باربرا د شوق د تکمیل په خاطر تللی وم. زه اوس هم په خپله نظریه کلك ولاړ یم".

هغه خپل دروند سر وخوځولو ، فرش ته یې وکتل ، وروځې یې جیګې کړې او په سترګو کې یې وخندل. ویې ویل: "له تانه مخکې هم زه ستا په شان له دوه درې پهلوانانو سره مخ شوی یم. هغوی خو مې رام کړي دي اوس ستا وار دی. ته به هم معلوم شې. اوس د شپې درې نیمې بجې دي ته ویده شه سبا به خبرې کوو".

جنرل ووت او زما په ذهن د لندن رنګینۍ راوورېدې. د چا پلار به دې ښکلاګانو ته ټینګ شي.خدای خبر څه وخت زما سترګې ورغلې وې.

سحر لس بجې راپاڅ‌ی‌دم. باربرا زما د پاره ناشته راوړه. د ځان سره مې سوچ وکړ چې نن خو یواځې وس‌ی‌دل پکار دي. د باربرا نه پټ د کوره ووتم او د هایډ پارك په لور روان شوم کله چې د لوی چوك نه ت‌ی‌ر شوم نو سترګې مې په یوه داسې جوړه ولګ‌ی‌دې چې سرتاسري حسن و. لوړه دنګه جینۍ او نیم عریان بدن ، د هر قدم سره به یې ټخ ټخ پټاخې الوزولې.

ما چې هر څو کوشش وکړ خو سترګې مې ترې وانه وښتې او بې اختیاره په هغوی پسې روان شوم. یو دوه څلور لارې وروسته په یوه داسې کوڅه ننوتل چې ما یې تصور هم نه شو کولی. د یو بلډنګ د دویم چت نه چن چن د ګونګروګانو آواز او د طبلې دربهار راته. ما چې سر پورته کړ نو یوې نوخ‌ی‌زې حسینې راته لاسونه وخوځول. زه لکه د مشین په څ‌ی‌ر زر زر وروختم. دروازه مې چې برانسته نو ح‌ی‌ران پاتې شوم. داسې ښکلې کوټه ما په ټول عمر کې نه وه لیدلې. د دنیا هر څه دلته موجود وو. هغې په یوې خاص آدا ما ته هرکلی ووې او د ځان سره یې په صوفې کښ‌ی‌نولم. زما د پوښتنې په جواب کې هغې داسې څه وویل چې زړه دې غواړي. د هغې نوم روینا و او اصلاً ډمه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه یوه ښه مغنیه هم وه چې دلته یې د مشرقي موسیقی یو کلب جوړ کړی و. د هغې په وینا هغه د حسن بازار د سر په حسیناؤ کې یوه وه. هغې د رقص په دنیا کې ځان ته مقام جوړ کړی و. د هغې خبرې دومره دلنشینې وې چې زه بې اختیاره د هغې په لور مایل شوم. ما او هغې تقریباً نیم ساعت صحبت وکړ. هغې د ما نه سبا ماښام د بیا راتلو او د هغې د رقص په محفل کې د شاملیدو وعده واخیسته. ما د هغې د صحبت قیمت آدا کړ او د هغې ځای نه ن‌ی‌غ د جنرل کور ته راغلم. جنرل دومره ښه سړی و چې د هغه کور ما خپل کور ګاڼه. ما د باربرا سره تر ډېره د روینا په هکله خبرې وکړې او ومو ټتیله چې سبا ماښام به دواړه ورځو.

سبا ماښام په ټاکل شوي وخت زه او باربرا د روینا بالاخانې ته ورغلو. د یو نوکر په رهنمایي موږ د رقص هال ته ننوتو. هال سم د یوې نګارخانې په څ‌ی‌ر و او په کې د شیشې هنري کار شوی و او په دې تیاره ماښام کې د یو شیش محل په څیر ښکارېده. فانوس ، بلبونه ، روښانه شمعې ، د ګونګروګانو شرنګار ، د رباب سوزوساز ، په یوه زمانه کې ما هم په خپل ښار کې داسې محفلونه لیدلي وو. په دروازه چې داخل شو نو د پوخ عمر یوې ښکلې ښځې موږ ته ښه راغلاست وویل. لږه ش‌ی‌به هم نه وه ت‌ی‌ره شوې چې د هال ټولې کرسۍ ډکې شوې. مخامخ یوې ښکلې نازك اندامې غوټۍ رقص کولو او یو پُرسوز غزل یې زمزمه کولو. د څه وخت د پاره دې هم محفل ته روښنایي وبخښله او د خپل حسن داد یې وصول کړ. د پوخ عمرې ښځې په اشاره هغې محفل برخاست کړ او د روینا د راتګ اعلان یې وکړ. په ټول هال کې ګونګوسي پ‌ی‌ل شو. روینا څه راغله چې محفل یې جاوداني کړ. د رقص په وخت د هغې ټولې پلې خوزېدې. اُف د هغې آداګانې ، سوزنده آواز ، د هغې د پښو ټپار. کله چې غزل خپل شباب ته ورس‌ی‌ده نو یو صاحب پاڅ‌ی‌ده او په روینا یې د روپیو باران جوړ کړ. کله چې د هغه ج‌ی‌بونه سپك شول نو زه ورپاڅ‌ی‌دم. ما د مخې د غټو نوټونو نه شروع وکړه. د روینا خولې هم اوبه راپرېښودې. ما یو لاس د هغې د نرۍ ملا نه تاو کړ او په بل لاس مې د هغې د حسن اسناد وپشل. کله مې چې یو لوی بنډل راوویست نو هغې له ډېرې خوښۍ زه ښکل کړم. ما هم دوه درې ځله هغه ښکل کړه. دا حالت تر هغې جاري و تر څو چې ما سره پیسې وې. نن د روینا د رقص ټول وخت ما نیولی و. ځکه خو زما د بیرته کښ‌ی‌ناستو سره سم محفل برخاست شو.

د نورو خلکو سره یوځای موږ دواړه هم راووتو. ما به لا دوه درې قدمه هم نه وو اخیستي چې د خلکو د منځ نه یو غوښن لاس راووت او زه یې د لاس نه ونیولم. ما چې وروکتل نو زړه مې ډوب شو. په تندي مې یخه خوله راغله.

-"آفرین صاحبه! زه نه پوه‌ی‌دم چې ته دومره حسن شناس هم یې. نن خو دې د روینا پوره پوره حق آدا کړ ". موریسن په لوړ آواز وویل.

ما هغه ته هیڅ جواب ورنه کړ خو په زړه کې مې ت‌ی‌ره شوه چې نور نو د موریسن سره ګوذاره ګرانه ده. په لومړي فرصت کې به ترې یو خواته ك‌ی‌ږم.

موریسن یوه ټکسي ونیوله. زه د شرمه په وروستي سیټ کې غونج کښ‌ی‌ناستم. زه د خپلې دعوې ضد ثابت شوی وم. ما احساس کړه چې زما ت‌ی‌رې خبرې هسې د خولې ېربوکۍ وې. ټکسي موږ د موریسن د محل مخې ته کښته کړو. موریسن زه د لاس نه ونیولم او ن‌ی‌غ یې خپلې کوټې ته بوتلم. هغلته یې تر ځنګه کښ‌ی‌نولم او زما لاسونه یې په خپلو لاسونو کې ونیول. د هغه دا عادت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر عجیب و. هغه به په خبرو کې د تاکید په وخت زما لاسونو ته زور ورکاوۀ. د لږ ځنډ نه وروسته یې په خوږه لهجه ووېل:

"فکر کوم حسن بازار هم د ژوند رومانوي اړخ دی. یواځې دده په هکله فکر کول هم څومره خوندور دي ، څه دې خیال دی ؟".

زه نو د خجالته نه مړ وم نه ژوندی. د جنرل دې خبرې چې درسته ده! خو زه وایم چې یو شاعر ادیب په خوله وایي یو څه ، او کوي بل څه نو دا هم ښه نه ده. زما په ذهن کې د تندر په څېر ځریکې وکړې. په ډېره نا آرامۍ مې ووېل: "بخښنه غواړم! زه هم حېران یم چې هلته تللی څنګه وم. زه بېخي نه تلم خو زه خو باربرا د ځان سره بېولی وم".

ـــ "هلته هسې هم څوک یواځې نه ځي. یو څوک خامخا بیایي. هسې هغه ښکلې غوټۍ ، هغه روڼ ماښام او پُرخیاله غږ څومره خوند کوي. سړی د هغې په هکله صرف فکر کولی شي. زه خو وایم ریالسټ هم اوسه خو بې د رومان نه هم ژوند نیمګړی دی". ما دده په رویه تعجب وکړ. د وروستۍ خبرې په ترخ کې یې یو ځل بیا زما لاس ته زور ورکړ.

ما په شکست خوړلي لهجه ووېل: "خو کار هم ښه شی دی. بې د کار کولو نه ژوند ممکن نه دی. د خلکو د حق غم هم باید وخوړل شي. د رومان نه هېڅ هم نه جوړېږي. کار خو یې کار او حقیقت پسندي خو یې حقیقت پسندۍ ته ویلې ده".

هغه زما لاسونه بیا زور کړل او ویې ویل: "عشق دې کړی".

ـــ "نه ... نه دا څه وایې!!! ما په خپل ټول ژوند کې کومې ښځې ته کتلي هم نه دي".

ـــ "په غره کې به لوی شوی یې ..... چې هلته ښځې بېخي نه وي".

ـــ "نه نه دا څه وایې!!! په کور کې راسره دوه د تره لورګانې او یوه د ترور لور هم وسېدې او زمونږ دوه ګاوندۍ ماریه او شازیه به هم مونږ کره تلې راتلې چې د سپوږمۍ په څېر ښایسته وې. د ماریې سره خو مې داسې زړه لګېدلی و چې یو ساعت به مې ونه لیده ، زړه به مې پرق چاودېده. هغه په ما دومره ګرانه وه چې ما نه به یې څه غوښتل ما به ورته راوړل. ټوله ورځ به د باغ په یو کونج کې ناست وو او د دنیا جهان کیسې به مو کولې. ما هغه ډېر ځله غاړه ایستلې هم ده. ددې نه علاوه مې داسې کارونه کړي دي چې توبه ترې هم شرمېږي".

-"د افسوس خبره ده ... نو دا د رومانیت کرونده نه ده نو نور څه شی دی. ګوره صاحبه! ښه به دا وي چې زما خبره ومنې او د رومانیت په هکله درست معلومات لاس ته راوړې. ته رومانیت ډېر په غلط مفهوم کې اخلې ". هغه په یو آدا سره ووېل.

ـــ "دا هسې پخوانۍ قصې دي. دا کارونه ما هغه وخت کول چې زه شاعر نه وم. زه اوس د یو ریالسټ انسان په حېث ددې خرافاتو کلک مخالف یم".

ـــ "یعنې ستا مطلب دادی چې ته د عشق او مینې په نوم کوم لفظ نه پېژنې او نه به په راروان وخت کې عاشق شې".

ـــ "او باالکل! زه به کومې پېغلې ته وهم نه ګورم او نه به یې څه دعوت قبول کړم". ما په پوره زعم ووېل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ــ "درسته ده ته اوس آرام وکړه بیا به خبرې کوو". دې سره هغه ن ی غ ودرېد خو ماته هغه د رخصت خبره رایاده شوه. ماته نور ددې ځای نه په تګ کې عافیت ښکارېده. اګر چې جنرل ماته د پاتې ل ی دو ډېر ووېل خو کله چې یوه شو چې زه نور دلته د پاتې ل ی دو والا نه یم نو ویې ویل: "ښه ده ... سبا به لاړ شې". هغه لاړ او زه د خوب په تکل وغزېدم.

سحر د ناشتې نه وروسته مې د جنرل نه رخصت واخیست. هغه باربرا ته ووېل چې تر یو ځایه زما ملګري وکړي او زما د ټکټ وغ ی ره غم وخوري.

زه د باربرا سره په موټر کې کښ ی ناستم. باربرا د موټر د روان ی دو وروسته ووېل: "تر سټ ی شن پورې به دې زه ورسوم ځکه چې لاره ډېره اوږده ده". ما د هغې شکریه آدا کړه. کله چې د فایو سټار هوټل مخ ته ت ی رېدو نو باربرا په غمګینه لهجه ووېل:

-"که خفه ل ی رې نه یوه خبره وکړم؟". ما ووېل: "آو ... ولې نه".

ــ" د کله راهیسې مې چې ته لیدلی یې د زړه آرامه دنیا مې بې آرامه شوې ده. زما ستا قدوقامت ، تورې سترګې او مشرقي انداز ډېر خوښ ی ږي. مهمه دا چې زه په تا مینه یم".

زما په دماغو کې چراغونه بل شو ، سترګو ته مې ستوري وځل ی دل او په زړه کې مې یخه هوا وچل ی ده. صرف دومره مې ووېل: زه هم ستا وصال بیخي بدل کړی یم. د کله راهیسې مې چې ته لیدلې یې د زړه ورانه دنیا مې آباده شوې ده. زما په زړه کې هم ستا د پاره چپې په موجونو وې خو ما دې چپو ته نوم نه شو ورکولی.

ــ "سمه ده. ډېره ښه شوه چې زمونږ مینه یو طرفه نه ده. ته اوس زما د پاره دومره نه شې کولی چې یوه شپه پاتې شې تر څو یو بل ته خپل زړونه ښه تش کړو؟".

ما په پوره ت ی زی سره ووېل: "ولې نه! خو اوس خو دا ب ی خي امکان نه لري ځکه چې ما اوس د جنرل نه رخصت اخیستی دی. هغه به څه وایي".

ــ" دا هیڅ خبره نه ده. ته داسې چل وکړه چې ورځ په کوم بل ځای کې ت ی ره کړه. کله چې شپه شوه نو د هغې بلې لارې به زما خوابګاه ته راشې. خیال کوه چې د نوکرانو نه دې څوک ونه ګوري. زه به منتظره ناسته یم".

ــ "سمه ده. زه به همداسې وکړم". هغې زه د موټر نه کوز کړم او بیرته د کور په لور رهي شوه. زه د ورځ ت ی رولو په خاطر نزدې پارک ته ورغلم. زما دا حال و چې یوه یوه لمحه به راباندې کال تمام ی ده. په پارک کې مې هم زړه ونه لګ ی ده او په سړکونو مې آواره ګردي پ ی ل کړه. تر څو چې شپه راتله نو ما دوه کِلو وازده ویلي کړې وه. آخر څه په اکو بکو ماښام راغی. تر څو چې د جنرل کور ته رس ی دم ،شپه پخه شوې وه. زه د باربرا د هدایت مطابق د هغه بلې لارې خوابګاه ته ورغلم. د باربرا خوابګاه هم دیوې لویې بنګلې نه کمه نه وه. لږه ش ی به پس د باربرا مترنم غږ زما غوږونه ځان ته راښکل.

ــ "باربرا! دروازه زر خلاصه کړه زه یم". د بلې خوا د باربرا آواز راغی چې: "مائي ډارلنګ! دروازه خو په دې نه شم خلاصولی چې آواز یې پورته نه شي. نزدې د نوکرانو کوټه ده. ته داسې چل وکړه چې په دېوال راواوړه. اول لاسونه راواړوه زه به دې د لاسونو نه رازور کړم".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما هم په یو پړق کې لاسونه په دېوال ورواړول. د هغې خوا باربرا ونیول. زه حی‌ران شوم چې د باربرا په لاسونو کې دومره زور د کومه ځایه راغی. خو کله مې چې په دېوال سر ورن‌ی غ کړ نو سترګې مې ټ‌ی‌غې پاتې شوې. ها خوا جنرل د غره په څ‌ی‌ر دنګ ولاړ و ........ زما لاسونه یو ځل بیا د هغه په لاسونو کې وو.

Pukhto.Net پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**همدردي**

دهر انسان د تخلیق شاته د دوه کسو لاس دی یوه ښځه او یو نر. سړی چې په څه شي سړی دی ګویا هغه برخه ورته د نارینه رسی‌دلې ده. اوهره ښځه چې په څه شي ښځه ده نو د وجود هغه برخه ورته د ښځې په نصیب رسی‌دلې ده ، باقي سړی دی.

دخبرې مطلب دادی چې هر سړی نیم نر دی او نیمه ښځه او دغه شان هره ښځه نیمه ښځه ده او نیم نر. بلکه هر سړي او هرې ښځې د جوړېدو په وخت کې زیات وخت له ښځې سره تی‌رکړی دی.

په ما چې دا نادر راز افشا شو نو سمدستي مې ورته د یوې مقالې شکل ورکړ او مقامي اخبار ته مې ولی‌ږه چې په هغې کې مې د نورودلایلو سره دا علمي دلیل هم لیکلی و چې: "د هر انسان د تخلیق شاته د دوه کسو لاس ............"

زما یقین و چې د مقالې چاپ لی‌دل به دنارینه ؤ غرور ته ماتې ورکړي او د ښځینه ؤ د کمزورۍ احساس به راکم کړي. خو داسې ونه شو.

اخبار په نارینه طبقه کې مقبولیت پیداکړ او له هره طرفه راته تعریفي لیکونه راغله. خو بل طرف ښځو دا د ځان بې عزتي وګڼله او په ما یې د یو کم عقل ، بې موضوع او کچه سړي تورونه پورې کړل. او اخبار ته یې وارننګ ورکړ چې بیا داسې بې سروپا لیکنې چاپ نه کړي.

زه چې دلته مایوسه شوم نو بل ښار ته مې د تلو اراده وکړه په دې خیال چې :

ندارد‌چون این شهر گوهر شناسی

دلِ خود به ملكِ دِگر مفروشم

زه چې بل ښار ته راغلم نو په بې غمۍ سره مې په دې هکله څی‌ړنې پیل کړې چې په دې کې د ښځو عالمي ورځ راورسی‌ده. ما رنګ په رنګه پوسترې بی‌رغونه تیار کړل او مختلفې نعرې ، شعرونه مې پرې ولیکل او په هغې کې مې په دې خبره زور راوړو چې له دې وروسته هر سړي ته په بل سړي کې له سړي سره سره خامخا ښځه هم په نظر راشي او لکه د طاؤس خپلو پښو ته په لیدو شرمنده شي. او هرې ښځې ته بله ښځه پوره ښځه نه بلکه نیمه ښځه نیم سړی ښکاره شي او له نتایجو نه یې بهرور شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار تر لسو بجو پورې ما خپل اشتهاراتي مهم ښه په تُندۍ سره جاري وساته. هر خاص و عام ، اخباري نمايندګانو او د کليو باندوڅخه راغلو مريضانو سيلانيانو ته مې تشريحي خطبې بيان کړې ، پوسترې تقسيم شوې او دهر قسمه سوالونو ځوابونه مې وويل. تقريباً ډېرو خلکو زما د راوړي پيغام مرسته ملګرتيا وکړه او داد يې راکړ.

په دې کې ناڅاپه د بوې خوا نه د ښځو يو مضبوط ټولی راښکاره شو چې مخه يې همدې چوك ته وه. د راتلو سره يې فلك شګافه نعرې پورته کړې چې په کې د سړو نه د بغاوت ، په خپلو پښو د ودرېدو او د ظلم او زياتي خلاف آوازونه پورته شو. زه چې پوه شوم چې دوی يوځل بيا خطا شوې او د افراط لاره يې ونيوه نو زر زر مې خپله ميانه روي رامخې ته کړه او په ډېر هنر مې د سړيو د سړيتوب ګراف ففتي ففتي ته راکوز کړ او چې په دې لړ کې مې څه زده وو ټول مې د دوی مخ ته ډېرې کړل او بيا مې يې خپلو بےنرونو ته پام راوګرځولو.

ښځو چې دا هر څه وليدل نو يوه پکې راوړاندې شوه او ويې ويل: "دا څه بې هودګي ده!!! ________ له دې ځايه ځې او که پوليس راوغواړم ".

په ما ورځ توره شپه شوه چې تر اوسه دوی څه ويل او اوس د يو نارينه د شړلو د پاره نارينه راغواړي. ګويا خپله ګټه په نارينه ؤکوي او سړي خپلو کې په جنګ اچوي. دې ش‌ی‌به کې ما نه هم رګِ نبض خطا شو او سړي راته مکمل سړي ښکاره شو. ما سره غم شو چې دا هر څه خو زه د يو علمي تحقيق د رامخې ته لګی‌دو نه زيات د ښځو سره د همدردۍ د اظهار د پاره کوم. نو بيا دوی زما مخالفت ولې کوي. ددې نظريې خو د سړو نه زيات ښځو ته د خپلولو ضرورت دی. دې کې نورو زما کاغذونه پوسترې راجمع کړې او ما ته يې په دا مخ راوويشتې.

ماته ځان ګل‌ی‌ليو ښکاره شو چې په ښار کې روان دی او د روم خلك يې په کاڼو ولي. بيا سقراط رامخې ته شو چې د حق و صداقت د پاره يې زهر وڅکل خو يو قدم هم شاته نه شو. ددې خيالاتو راتلل وو چې زه په نوې جذبه خپل فل‌ی‌ټ ته راغلم او ټوله شپه مې په دې غم کې ت‌ی‌ره کړه چې غلطي په کوم ځای کې ده. آخرد دنيا خلك زما په خبره ولې نه پوه‌ی‌ږي. ما لا دا سوچونه کول چې دې وخت کې راته دتبليغيانو هغه خبره رايادہ شوه چې د هر عمل شروع اول د خپل ځان نه پکار ده.

سهار ما پوره تياري وکړه او په ډېر فخرد ښار په کوڅو کې راروان شوم چې دې کې يوې ښځې بلې ته ووې: " دا لا څه شی دی ______ دا خو لکه چې هجړا دی خانه خراب."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما مخ وروارولو او ومې ويل: " بالکل صحيح تعبير دې وکړو______ د بادشاه مازغه لرې خو افسوس چې ښځه ذات يې. "

خو چې لږ وړاندې لاړم نو سوچ راغی چې هجړا خو څه بل څه شی وي. هغه عيب خو په ما کې نشته نو بيا ولې غلط طرف ته منسوب کړل شوم.

ما داسې کار کړی و چې قميص مې د ښځې اغوستی و او پرتوګ د نر. چې د وجود پورته حصه د ښځې نمايندګي وکړي او لاندې د نر.

زه چې پوه شوم چې نور نو بيخي په شرمونوشرمېږم او دې خلکو هسې هم ټول عمر د علم او ترقۍ مخالفت کړی دی او خدای خبر څومره د ملك و قوم خېرخواهان به شاته ديکه شوي وي نو څه فايده چې ځان کړوم. همغلته د خپل مشن نه مستعفي شوم او کور ته روان شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مساوات**

مونږ دواړو په ریستوران کې چای وڅکلې او راووتو. ښکاره ده چې څوك دوه درې پیالې شنې چای وڅکي نو بیا ټوله ورځ متیازې ورځي.
ما هغې ته ډیر وویل چې هغه دې هم زما غوندې لاړه شي او مخامخ دې د ریل دمتروکه پټرۍ په خوا کې خپل ضرورت پوره کړي ، خو هغې بیخي دا منله نه. حال داچې مونږدواړه د تحریك مساوات سرګرم غړي یو او په دې مو اتفاق دی چې دا دنیا د ښځې او نردپاره یو ډول پیدا شوې ده او دواړه ترې باید په یو ډول ګټه پورته کړي.
ما بیا هغې ته وویل چې ګوره ټوله دنیا راروانه ده او هلته د ځمکې په خدمت بوخته ده نو ته ولې نه ورځې.
په دې وخت کې دا خجالته شوه خو څه جواب یې رانه کړ. ما ته پته وه چې ددې جواب دا دی چې "شرم دی زه څنګه په داسې ځای کې متیازې وکړم چې نارینه دې په دوربین کې هم ښکاري".
د هغې خوله ځکه بنده وه چې شرم یې د جواب په توګه نه شو رامخې ته کولی ځکه چې زمونږ په مجلسونو کې دا خبره ډیره په تُندۍ سره غندل شوې وه چې پخپله ښځو هم ځانونه د شرم ، حیا او پښتو په نوم د خپلو ډیرو حقوقو نه محرومه کړي دي.
بله ورځ مونږ په یو دوه مرسډیز موټرو کې د یو کلي په دوره روان وو. چې په لاره کې دوه بسونه وجنګیدل. هر طرف چغې سورې او د وینو لښتي روان شو. مونږ ګاډی بوې خوا ته ودراوه او ورمنډې مو کړې. تقریباً دوه درې ساعته مونږ د مړو په جداکولو ، د هغوی د سامان آلاتو او پیسو په ساتنه ، د زخمیانو په راټولولو او هسپتال ته په رسولو تیر کړل. کله چې حالات سم شو او خلك په خوریدو شو نو مونږ هم ستړي ستومانه خپل ګاډي ته راغلو.
په ګاډي کې ناست زنانه سټاف چې مونږ په وینو رنګ ولیدو نو په ژړا شوې اوسرونه یې په لاسونو کې ونیول..... " الله د میندو به یې څه حال وي!". ماچې کله د دوی دا یو طرفه آه و بکا واوریده نو ما ته یې سپین ږیري او بې کسه پلاران سترګو ته ودریدل چې دوی یې تکیه او دلاس آمسا وه --
ددې پیښې په سبب زمونږ دوره منسوخه شوه.
سبا ته اته واړو ټیلیفون وکړ چې نن مونږ دفتر ته نه شو راتلی ځکه چې سرونه مو درد کوي او پرونی منظر مو سترګو سترګو ته کیږي. ما ورته وویل چې مونږ خو یو هم نه یو پاتې شوي حال دادی چې ستړي هم یو او منډه تړه هم مونږ ووهله نو تاسې ولې نه راځئ.
تقریباً ټولو دا خبره واروله راواړوله چې زمونږ اوس هم سترګې سرې دي او اعصاب مو کار نه کوي. تاسې خو سړي یئ زړونه مو غټ دي.
خدای خبر ولې زما د دوی په عذر تشفي ونه شوه او زړه مې ګیله من شو چې داځنګه مراعت خواهانه منطق دی چې د مساوات په دې دور کې پرون هم مونږ ستړي شو او نن هم - او اعصاب د دوی خراب دي.
دا خو لا څه کوې زمونږ په سټریا کې خو هغه وخت نوره هم اضافه وشوه چې تقریباً په دوه درې هفتو کې درې څلورو زنانه ؤ دوه دوه میاشتې د ماشوم د زیږون رخصتې واخیسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه وخت پس زمونږ په اداره کې د مساوات په موضوع یو سیمینار جوړ شو چې پکې د ملك نوموړو شخصیتونو ګډون وکړ. ما خپله مقاله ډیره په زحمت لیکلې وه او تقریباً پنځه دیرش کتابونو د مطالعې او اعداد و شمار نچوړ مې پکې راجمع کړی و. د مطالعې په دوران کې زما ذهن ته دا خبره هم راغله چې: "ښځې او نارینه بالکل مساوي دي او دواړه انسانان دي. خو دا مساوات داسې نه دی چې دواړه بالکل یو رنګ دي یا ظرفیت ، جوړښت او کردارېې یو شان دی. بلکې مثال یې داسې دی لکه هوا او اوبهٔ چې دواړه د ژوند دپاره په مساوي توګه ضرور دي. خو استعمال ، نوعیت او دریافت یې جدا دی". خوما دا خیال فوراً رد کړ.

زما مقاله ددې ادعا ښهٔ نمونه وه چې ښځې او نارینه ایکي یو شی دی. د دوی حقوق ، مقام او اهمیت بالکل یو شان دی. دواړه یو رنګ دي او لکه د موټر د پایو په شان دواړه د کور په چلښت کې برخه لري. زما مقاله کامیابه وګرځول شوه او ورته د ښځود حقوقو د ښهٔ حمایت امتیاز ورکول شو. ناستو کسانو هم مقاله وستایله. د سیمینار دتشهیر دپاره د پرنټ او الیکټرانك میډیا نمایندګان په لوی شمیر کې موجود وو. زمامقالې دومره شهرت بیاموند چې ما ته د درې څلورو ملکونو نه د دورې دعوت راکول شو.

ما د ځان سره فیصله وکړه چې خپل ټول عمر به د ښځو او نارینه ؤ د مساوات په خدمت کې تیروم او چرته چې د ښځو حقوق تر پښو لاندې کیږي نو هلته به انقلاب راولم.ما خپلې مقالې ته نوره هم فراختیا ورکړه او د یو کتاب په شکل مې چاپ کړه. په کتاب کې چون د مساوات د راوستو یوه واضح کړنلاره ورکول شوې وه او ډیره په سختۍ داغوښتنه شوې وه چې په کورونو کې نظربندې زنانه دې راوویستل شي او ورته دې د ژوند په هر ډګر کې د سړیو سره اوږه په اوږه برخه ورکول شي. نو ځکه خو کتاب په بعضې غیرحکومتي تنظیمونو کې ډیر مقبول شو اوهر طرف ته ددې غوښتنې د پوره کولو یو طوفان راولاړ شو او زه د یو هیرو په شکل کې مخ ته راغلم. دا مطالبه دومره شدیده شوه چې دې تنظیمونو او د ملك معززو ښځینه شخصیتونو په یو اعلیٰ هوټل کې د غرمنۍ بندبست وکړ او وزیراعظم ته یې د خصوصي میلمه په توګه د ګډون بلنه ورکړه.

زه چې کله غونډې ته ورسی‌دم نو تقریباً دوه درې زره خلکو چې ډیر شمیر یې زنانه وې ماته هرکلی ووې او د ګلونو هارونه یې را په غاړه کړل.

د ګډون کوونکو او خصوصي میلمه د همدردانه تقریرونو او په دې هکله د مرستې د اعلانونو نه وروسته ما ته د صدارتي خطبې بلنه راکول شوه. زه چې کله مایك ته راغلم نو احتراماً ټول ودریدل او د لاسونو په مضبوطه پړقا یې زما بدرګه وکړه. ماپه زړه کې وویل چې همدا وخت دی چې دا مسئله په ښه شکل رایاده شي او وزیر اعظم ته هغه نکتې په ګوته شي چې د مساوات په لاره کې خنډ دي.

ما د تقریر په یوه حصه کې وویل: "مونږ ته پکار دي چې د مساوات قایل شو او ښځو ته هم په هر میدان کې د خدمت کولو موقع ورکړو. ښځې او سړي بالکل یو برابر دي په دوی کې هیڅ فرق نشته. کوم کارونه چې سړي کوي باید چې ښځو ته هم ورکول شي. په دې ملك نور د سړیو حاکمیت نشي چل‌ی‌دی. سړیو په ټولنه قبضه کړې ده. د کور ، محلې او کلي نیولې تر ښاره او پوره ملکه بلکې تر پوره دنیا پورې نارینه د قابض کردار اداء کوي او په وسایلو یې خیټه اچولې ده ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هال کې دومره جوش او پړقا خوره شوه چې که مجسم شوی وی نو لکه د واورې او باران به راوربدلی وی.
ما خپل تقریر جاري وساته: " ولې تاسې نه ګورئ چې په دې ملك کې سړي د فوج په شکل راجمع شوي دي اوددې ملك په غرونو رغونو يې قبضه کړې ده. ولې ښځو ته په فوج کې د شامل‌ېدو موقع نه ده ورکول شوې. د فوج سمه نيمه حصه دې د ښځو نه واخيستل شي او ددې ملك هرې حصې ته دې ولېږل شي".
دې وخت کې په هال خاموشي خوره شوه:
" تاسو نه ګورئ چې ددې ملك په ښارونو کې نايي نارينه دی- قصاب نارينه دی- دکاندار نارينه دی- مزدور نارينه دی- ټکسي ډرايور نارينه دی- ټول وطن نارينه نارينه دی. ولې داظلم روان دی. ولې په کاروبار نارينه قابض دی. ولې د هر نايي په څنګ کې يوه نايڼه نه کښېنوئ- ولې رکشه د ښځې په واك کې نه ورکوئ او ولې د کلي او ښارونو د پېړي او ملا مزدوري نارينه لوټي او د کليو او ښارونو زنانه ورسره نه حصه داره کېږي. ښځې هم غواړي چې ددې ملك په سختيو کې د نارينه ؤ سره يو ځای برخه واخلي. حکومت دې په دې هکله اقدامات وکړي".
ما چې وليدل د حاضرينو رنګونه ټول تك سره شوي وو او پوزې شونډې يې د عادي حالت نه را اوړدې شوې او سترګې يې ټاغې راوتلې وې. ما سوچ وکړ چې دا په تقرير کې ډېر محويت عالم دی.
" مساوات چې دی يواځې په دفتر کې د ميز تر شا نه دی بلکې په کليو باندو ، ښارونو ، لارو کوڅو ،پوله پټي ، جنګ او دفاع - هر څه کې مساوات دی. ښځې دا غواړي چې يو نارينه مري نو يوه زنانه به ورسره ضرور د جنګ په ميدان کې مري. دا نه شي کيدی چې سړي دې په سرحدونو جنګېږي او د لويو نړيوالو طاقتونو د ګوليو ښکار کيږي دې او ښځې دې په سرخي پاوډر د مساوات لفظ ته تجلا بخښي. لنډه داچې که د يو نارينه ملا درد کوي نو د يوې زنانه ملا به ورسره ضرور درد کوي.........".
زه چې کله په خود کې راغلم نو ډېر وروسته په دې پوه شوم چې نن زما په هسپتال کې دريمه ورځ ده او لس پنځلس ورځې مې نورې هم همدلته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**العیاذ بالله**

مجنون څکه کامیاب و چې ځان یې نه و تقسیم کړی او ټول عمر یې یواځې په یو عشق ګوذاره وکړه. او روایتونه وایي چې لیلٰی هم ډېره شایسته نه وه بلکې توره وه نو څکه خو مجنون ته د ډېرې انرجی د مصرفولو ضرورت نه و او لکه د زیارت د ډیوې په لړو تې‌لو هم چل‌ی‌ده. خو ابن خلدون په خپل کتاب تاریخ المفسدین کې یوه عجیبه واقعه راوړې ده چې هغه ددې پورته بیان نفي کوي.
داسې ښکاري چې ابن خلدون دا روایت په غلطه طریقه حمل کړی دی خو چې سړی د ننی زمانې د مفسدینو اعمال ګوري چې د اسلام او مجاهد په جامه کې یې ځانونه د الله جل مجده په مخ کې ثومره ذلیل کړل ، ثومره یې په خپلو غوږو ږیرو د قرآن پاڼې داغدارې کړې او ثومره یې خپلې پګړۍ ددې خاورې د صحرایي غریبو پ‌ی‌غلو په طهارت نجسې کړې... نو د سړي باور شي چې مجنون به هم سم سړی نه و.
ابن خلدون لیکي چې مجنون یوه ښځه هم اغوا کړې وه. هغه دا کار هغه وخت کړی و کله چې هغه د روزګار په تلاش کې بغداد ته تللی و. کله چې هغه د یوې بالاخانې په خوا کې ت‌ی‌رېده نو د ساز و آواز شیرینۍ هغه دې ته مایل کړ چې دننه ورشي. کله چې دننه ورغی نو په قلوپطرا نومې رقاصه یې زړه بایلود او د تورې په زور یې هغه وتښتوله. کله چې لیلٰی ددې خبرې نه خبره شوه نو مجنون ته یې یو خط ولیکه چې دا غلط کار دې ولې کړی دی. مجنون په خپله صفایی کې ولیکل چې د یو چمن د ګلونو خوشبو چې د چمن د دیوالونو نه هاخوا اوړي نو خامخا به د ګلونو کاروباریان ځان ته متوجه کوي او د خوشبو د تسخیر په خاطر به په ګل او ګِل اجاره داري قایموي. خو زه بیا هم افسوس کوم او د خپل ندامت په خولو لوند یم. ته خفه کیږه مه څکه چې زه اوس هم له تا سره مینه لرم. تاته خو پته ده چې عراقی بن مانس په یو وخت کې په درې څلورو ښاخونو زانګي او خوند اخلي.
لیلٰی چې د مجنون په لهجه کې د بغداد د متکلمینو او ادبي آواره ګردو عیاشي محسوسه کړه نو پوه شوه چې مجنون اوس کوهي ته بوکه نه اچوي بلکې راساً کوهي ته کوز شوی دی.
ابن خلدون لیکي چې لیلٰی ددې نه وروسته د ځان نه ښاماره جوړه کړه او روزانه به یې د چندړو په مختلفو ښاخونو رازانګل او د صحت خیال یې ساته.
واسکو ډی ګاما چې د یورپ نه د قسطنطنیې په لاره هند ته راته نو مجنون یې په روم کې لیدلی و. هغه په خپله سفرنامه کې لیکي چې د روم په مضافات کې زما ملاقات د مجنون نومې یو سړي سره وشو چې تازه عیسایي شوی و او د ورځې به درې ځله چرچ ته تلو. ګاما لیکي چې ما د هغه نه پوښتنه وکړه چې ته د عیسایت نه ثومره متاثره یې او د مطالعې محور دې څه شی دی؟
هغهٔ په جواب کې ووې چې زه د عیسایت نه ډېر زیات متاثر یم څکه چې دلته یو پادري راته کار هم پیدا کړی دی او لور یې هم راکړې ده. اول عراق ته تللی وم هغلته رانه قتل وشو اوس دلته راغلم.
مودې ت‌ی‌رېږي او د مجنون د بد کردار وارثین اوس هم د ځمکې په مخ راټوک‌ی‌ږي. اوس هم خلك د پیسو دپاره عیسایان ک‌ی‌ږي ، کیمونستان ک‌ی‌ږي ، او شیعه ګان ک‌ی‌ږي او د پښتانه غوندې د مخلص مسلمان او بې ضرره انسان په سینه چاړه ورمنډي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**زاویه دنظر**

د بادار پلار بوډا و او مور يې د زمرۍ غوندې په ټول عمر کې صرف دوه بچي راوړي وو ، بادار او سپد نظر .

د جمعې ورځ وه ، جومات ښه ډک و. ملا صاحب بيا بيا دا حديث شريف لوسته چې اَلصّدقةُ ردُّ البلاء او ورسره ورسره يې د صدقې د اهميت مختلف اړخونه رابرسېره کول. په بادار دومره اثر وشو چې سمدستي يې د کور د بکس نه پنځه سوه روپۍ وويستې او راووت. د هغه د نېکۍ کولو حس ښه په جوش کې و. مدرسې ته چې ورسېده نو د اطمينان دپاره يې د مدرسې بورډ ولوست:

مدرسة بحرالعلوم

مهتمم:امام العارفين علامه الحاج حسين احمد صاحب مد ظله العالی

او بيا په مدرسه ورننوت. د کوټو او برنډو د يو اوږد قطار نه چې تېرشو نو مخامخ ورته يوه نوراني څهره ښکاره شوه چې اوږده سپينه ږيره يې لرله. د ململ پګړۍ يې په سر وه او په لاسو کې يې اوږدې تسپې لاندې ځنګېدې. بادار نېغ ورغی او د هرکلي په وخت ورته پښو ته ټيټ شو او بيا يې پنځه سوه روپۍ راوويستې او مولٰنا صاحب ته يې په لاس کې کېښودې. نوراني څهرې چې پيسې وليدې نو په نورانيت کې يې اضافه وشوه. بادار يې د لاسه ونيوه او د ځان سره يې يوې کوټې ته بوتلو. کله چې کښېناستل ، نو د بادار په حق کې دعا وشوه:

ـــ"جَزَاکَ اللّهُ اَحسنُ الجزَاء فی الدُّنياء والآخرة ، اللّه ربِّ کريم دې تا نېک عمله او قرآن خوانه کړي. اللّه دې تاته ددې نيکۍ يو په سله بدلې درکړي چې تا د اللّه د دين خدمت وکه. خو تاته ښه پته ده حاجي صېب چې زمونږ دا مدرسه خاص په چندو باندې چلېږي بله څه زرېعه نشته دی. نو که ستاسې غوندې اهلِ خېر حضرات له مونږ سره څه لاس امداد وکړي نو اللّه جلَّ شانهُ به يې اجرِ عظيم ورکړي. "

د بادار سترګې وځلېدې. هغه ته د نېکۍ کولو بله موقع په لاس ورغله.سمدستي يې جېب ته لاس کړ ، قلم کاغذ يې راوويستل او يو لسټ يې تيار کړ.

سبا ته بادار لس زره روپۍ په جېب کې ايښې وې او د مدرسې په لور غشی شوی و. په لاره کې دوه درې ځايه پوښتنه وشوه: ---- باداره چرته؟

بادار هر ځای د تېرې او دې صدقې ذکر ښه په شدومد وکړ او ترغيبي کلمات يې اداء کړل. بادار به لا مدرسې ته نه و رسېدلی چې يو شمېر خدايي رضاکار يې د پلار په حضور کې حاضر شول او د بادار د کارخېر نه يې خبر کړ.

بادار چې کور ته راغی نو ګوري چې پلار يې بې هوښه دی او خلک پرې راجمع دي.

ــــ " ما خو څه خوړلي نه دي او نه مې پرې جواري کړې ده ـــ په تاسو خو حرام شه که په خپل عمر کې يوه انه هم خيرات کړئ. "

د بادارخيال و چې خلکو ته يې صحيح جواب ورکړی دی. په دې وخت کې د کلي ملك ، د جومات ملاصاحب او يو دوه درې کسه نور هم راغلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

"راغلي دي د وخت حاتم طايي ......... خيرات خو په ما کیږي نو بل ځای ته يې د وړو څه حاجت دی ، الحقُّ لِلقريب ".

د ملك صیب ددې خبرې نه وروسته د بادار ماما وویل:"د سړي چې د کمي کور راشي نوچرګان يې هم بې لارې شي پاتې خو لا انسانان. "

ملا صاحب چې د تقویٰ او علمیت شهرت يې تر ليرې خور و په وړومبي ځل خوله پرانسته:"بادار جانه! پيسې دې څه کړې ــــــ چرته اخوا دېخوا خو به دې ضايع کړي نه وي ؟ "

د ملا صاحب ددې خبرې سره د بادار ډېران اور واخيست:"ملا صیب څه لیونی خو نه يم ........ د خدای او رسول په لاره کې مې لګولي دي ، څه ډمانو ته خو مې نه دي ورکړي. "

ــ"ښه نو چاته دې ورکړي دي ؟ ........ ځای يې معلوم دی ؟."

ملا صاحب بله پوښتنه وکړه.

ــ "هو ولې نه د مدرسه بحر العلوم مهتمم صاحب ته مې ورکړي دي. طالبان ټول نهر وو او نور کتابونه متابونه يې هم نه وو. زما په زړه الله رحم وکړ او زه ورته خدای وسيله کړم. "

په دې وخت کې د بادار د پلار سترګې وغړېدې خو چې د کور ټوله متاع (لس زره روپۍ) يې سترګو ته ودرېدې نو بيا بې هوشه شو.

ــ " که ملا حسین احمد ته دې ورکړي وي نو هغه خو څه بل شان سړی دی. دمدرسې په نوم يې ځان ښه جوړ که. کله به نوی جومات شروع کړي ، د هغې د پاره به چنده غواړي او کله به ځان ته د مدرسې مهتممي پيدا کړي. بلا سړی دی د بهر ملکونو سره يې هم رابطه شته. په صورتِ قطعي سره به د مدرسې يو احتياج هم رفع نه کړي. الله جلَّ مجدهُ به د دغسې افرادو حشر له عُلماءِ سوء سره کوي. ــــــالله دې مونږ ته نجات راکړي." ملا صاحب د خپلې جهان بينۍ وضاحت وکړ.

ملك صیب چې د ملا صاحب وضاحت واورېده نو خبره يې لنډه ختمه کړه:"زه په ډېرو خبرو نه پوهیږم خو بس دومره درته وايم چې همدا اوس لاړ شه او هر رنګه چې وي پيسې حاضرې کړه."

د بادار سر په درد شو. که د ملك صیب ويره نه وی نو کله به هم بيرته په پيسو پسې نه وی تللی. خو اوس خو له داسې چا سره اوښتی و چې د ډېرو قبلې يې سمې کړې وې.

بادار څادر په اوره کړ او راووت. په لاره به يې کله د سر درد زيات شو او کله کم. مدرسې ته چې ورسېده نو ن ی غ همغه دفتر نما کوټې ته لاړه. د علامه حسین احمدسره يو بل کس هم ناست و چې ښه اعلیٰ لباس يې اغوستی و او يو نومولود يې د غوږ دآذان د پاره راوړی و.

بادار ساه نيولی په کوټه ور ننوت او د سلام کلام نه وروسته د خړپړ توشك په هغه څنډه کښیناست چې مخې ته دریې يې طالبانو په چايجوش سوزولې وه.

"حاجي صاحب څنګه داسې زر بيرته راغلې؟ ....... الله جلَّ شانهُ دې خیر و عافيت وفرمايي ....... څه حادثه خو نه ده واقع شوې ؟." ملا صاحب په داسې انداز وپوښتل چې د مخ نه يې غم او پرېشاني څرګنده.

"مولٰنا صیب! ماته خپلې پيسې بيرته راکړه ــــــ که ته داسې ونه کړې نوما به ټول کلی په دار کړي." بادار د خپل ځای نه رامخې ته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـــ "ولي الله ربُّ العزت دې ستا په حال رحم وکړي. ته خو ډېر نېک او متقي انسان يې. د خداوند جلَّ و علٰی شانهُ نېک بندګان تل د امتحاناتو سره مخ کېږي. "

ـــ "هر څه چې وي مولٰنا صېب خو زه ددې امتحان د ټينګې بېخي نه يم. ما دمور او پلار د مشورې نه بغېر دا کار کړی و او اوس خو راته ټول کلی يو شوی دی. ملك صېب هم خبر شوی هغه مې وڵاکه ژوندی پرېږدي. ګنې زما په وس چې وشي زه به دا خپل کور هم خلکو ته ورکړم. بس چې خلك رضا وي او زما ښه ووايي. "بادار په هيجان امېزه لهجه وويل:

ـــ " ګوره الحاج صاحب! يوه مقوله ده چې العوام کاالانعام ـــــ عوام د څاروو په شان دي. د دوی په خبرو پسې به نه ګرځې. ته خپل تعلق د خداوندِ کريم سره ټينګ ساته. باقي امتحانات به راځي خو ته خپله حوصله درسته ساته. څرنګه چې حضرتِ لقمان خپل زوی ته د صبر تلقين کوي همد غسې زه تاته هم د صبرِ جميل توصيه کوم. "

ـــ " زه خو به صبر وکړم خو هغوی کې چې د صبر ماده نشته نو څه وکړم ؟ "

ـــ "هغوی ماته پرېږده. زه به ورته وعظ و نصيحت وفرمايم او د صدقې په اهميت به يې خبر کړم. الله به ورته هدايت وفرمايي. ته صرف دومره وکړه چې تر دې ځايه يې راوله. که نه راتلل بيا به خېر دی زه ورپسې ورشم. "علامه صاحب زر زر د بادار تشفي وکړه.

بادار جيګ شو ، خپل سر يې په لاسونو کې ونيوه او روان شو.

ـــ "ډېر صالح انسان دی. الله ورته ډېر روغ صحت او عقلِ سليم ورکړی دی." علامه صاحب ډاکټر صاحب ته مخ ورواړولو او خپله رايه يې څرګنده کړه.

ډاکټر صاحب ماشوم يوې ډډې ته کړ او ويې ويل: "هر څه چې وي مولٰنا صېب! خو ماته دا سړی نفسياتي مريض ښکاري."

(c) ketabton.com: The Digital Library

**انسان په فاصله د انسان**

"صدر له ___ بوړه له ___ کابلی له ___ اشنغری له___!!!" او ددې آواز په اورېدو سره زه ګاډي ته وختم. د سلام اچولو نه وروسته په مخامخ سیټ کښې‌ناستم. تقریباً د ټولو نزدې سیټونو نه زما د سلام جواب راغی.

"ټایم څه دی ؟." زما د څنګ کس خوله را اوږده کړه او پوښتنه یې وکړه.

__" پاو باندې نهه"

ګاډي ډرایور د یو مولانا صیب کیسټ ښه په جهر لګولی و. هغه زما آواز وانه ورېده او بیا یې وویل:"څه ؟ "

ما ګهړۍ د هغه مخ ته ونیوه او لږه شې‌به وروسته هغه بله پوښتنه وکړه :

" ګهړۍ بهرنۍ ده ؟ "

زه پوه شوم چې د صاحبِ سیټ زما د ګهړۍ ډېزاین خوښ شوی دی _____ ما وویل: "آو __ د پې‌رس نه راغلې ده. "

د هغه سترګې زما د ګهړۍ د څلا نه هم زیاتې وځلق‌ېدې او خپله خیرنه ګهړۍ یې په لستوڼي کې دننه کړه.

دې کې یو کس وویل: " ته راکه _____ دا کتاب! شاعري مایري ده که څه ؟." او دې سره هغه زما د غې‌ږې نه کتاب کش کړ. د بل څنګ سیټ والا چې دا ولیدل نو زما د غې‌ږې نه یې دواړه رسالې راښکودې. په دې ټول عمل کې د هغوی نظرونه په ما نه ، بلکه په کتابونو رسالو متمرکز وو.

ما چې د التفات دا لاپروا انداز ولیده نو ما هم هغوی ته ونه کتل او د خپلو شخیدونکو لاسونو په چاپې کولو سر شوم. زما په زړه کې یو خاص قسم خوږلني وټوکېده او دې شې‌به کې ماته خپل ځان څه خاص څیز ښکاره شو.

__ " آ وروره! کرایه راوالئ _____ "

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما سره ماتې نه وې ـــــــ کلينر ته مې د سلو نوټ ورکړ. کلينر شاته کوږ شو او په بې ادبۍ سره يې وويل:"ښه ګورې چې داسې حالت دی او بيا هم نوټ راوباسې."

دې وخت کې شاته د دريم سيټ کرم فرما چې اوږدو شخو بريتونو کې يې د جوارو د وړې پوستکي نښتي وو او توکه يې تازه تازه لاندې غورزولې وه ، وويل: " راکه .... زه ماتې درکم."

کلينر د هغه سره معامله خلاصه کړه او ماته يې آدايګي وکړه.

ګاډی ښه تېز روان و. مختلف دکانونه ، مکانات ، د سړک نه ګرځېدلې لارې او مختلف شکلونه حليې د شيشو نه وروسته پاتې کېدل. زه هم چې لږ اوزګارشوم او غوږونه مې ساړه شو نو نظر به مې خامخا مخکې لګېده.

ما د سپېنې برقع والا زړې ښځې چې د برقع نه يې مخ دباندې راويستلی و او په تېره پوزه يې د غټو شيشو چشمه رازوړنده کړې وه ، تر ځنګ يوه جينۍ هم وليده چې عمر به يې په مشکله شلو کالو ته رسيده. د هغې برقع نه وه نو مخ به يې د څه شي نه دباندې راويستلی وی نو ځکه خو مجبوراً بهر و.

د هغې غېږ کې دوه کتابونه وو. د يو نوم خو صفا ښکارېده (هيومن اناټومي) او د بل ما هغه وخت وليده چې زما د نظر لاندې راغی (سوشيولوجي). ماته راياد شو چې دې دواړو سيټونو تر اوسه زه نه مخاطب کړم او نه يې څه توجه وکړه. او ښتيا دوی ماته د سلام جواب هم نه و راکړی. خو سره له دې به هم زما نظر مسلسل زما د سيټ د افق نه طلوع کېده او د هغې د سيټ په کنارو به پرېوته. خبره تر دې نه وه محدوده ما له هغې سره خبرې کول غوښتل. د هغې د کتابونو موضوع او تنوع زما د پاره پرکشش وه. خو زما داسې حالت و چې تر اوسه زه د خبرو د کثرت نه تنګ وم او چې اوس زه خبرې کول غواړم نو نامعلوم وجوهات زما خوله ګنډي.

غالباً په دې ګاډي کې د څه اسپب وغېره اثر و ځکه هغې به هم ماته نه راکتل او نه يې تر اوسه زما څه نوره حوصله افزايي کړې وه.

دې وخت کې زما نظر په يو شعر ولګېده ، کوم چې د هغې سيټ ته مخامخ د شيشې ديو سر نه تر بل سره ليکل شوی و.

"که راته ګورې درته ګورم ـــــــ که راته نه ګورې پروا دې نه لرمه "

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د شعر په صحت شك شو ځكه چې تر اوسه داسې څه صورتحال نه و پيدا شوی. ما يو ځل بيا هغې ته وكتل خو هغلته څه كرنښ پيدا نه شو.

زما زړه كې ت‌ی‌ره شوه چې ددې ځای نه د پښتو دا شعر ورانول پكار دي. بيا مې ووې چې دې كې د شعر څه غلطي ده. غلطي څه بل چرته ده.

ما همدا سوچونه كول او ګاډی د ښار د هغې برخې نه ت‌ی‌رېده چې د سنيماګانو د پاره مشهور و. په دېوالونو نن سبا د "انجام " پوسټرې لګ‌ی‌دلې وې. ما چې سترګې پورته كړې نو ګاډی هم ددې اعلانِ خ‌ی‌ر نه خالي نه و. مخامخ پوسټر لګ‌ی‌دلی و چې پكې پلار د خپلې لور په سر كلاشنكوف ايښی و. او حيدري نعره يې وهلې وه.

د فلم سټوري ماته پته وه. هغه داسې وه چې يوه جينۍ د يو هلك سره مينه كوي او يو بل ته ن‌ی‌ك جذبات ساتي. آخر هغوی دواړه د كوره وتښتي. د هغې پلار چې يو كلك پښتون وي ، هلك مړ كړي او بيا خپله لور ووژني.

ما چې د فلم د انجام په تناظر كې جينۍ ته وكتل نو د معاملې تل ته ورسېدم. بيا مې زړه ته راغله چې زه هغه تښتوم خو نه صرف يو څو بې ضرره غوندې خبرې كول غواړم. آخر هغه هم انسان دی او زه هم.

مصيبت دا و چې تر اوسه هغې زړې بوډۍ هم "كه راته ګوري درته ګورم " قابلِ اعتناء نه و ګڼلی. ما چې دا ځل جينۍ ته وكتل نو خپل حجم راته په كم‌ی‌دو ښكاره شو. او د هغې خلاف زما د شكاياتو د بوجۍ نه هوا ووته. خو چې په بوډۍ مې نظر پرېوته نو په رګونو كې مې د وينې حركت ت‌ی‌ز شو او د لاسونو ګوتې مې خپلو كې زور شوې. ګويا بوډۍ يې په ستوني كې نيولې ده او لكه د مرغۍ يې چغول غواړي.

دې وخت كې ډرايور ل‌ی‌سټ بند كړ او زما شاته ناست سړي د خپلو ګناهونو بخښنه غوښتل شروع كړل. هغه په رقت آم‌ی‌زه لهجه د خپلې كورنۍ د ستر پردې د ساتلو خواست وكړو. او د توبې توفيق يې وغوښت.

ماته د ګاډي ماحول دقيانوسي ښكاره شو. زه د ګاډي نه كوز هم شوم خو ماته تر آخره په خپل مقصد كې كاميابي ونه شوه. آخر هغه انسان نه و كه څه چې زما ورسره خبرې ونه شوې. ما خو په شعر هم عمل وكړ ، د ګناه كولو تجربه مې هم نشته او خدای ته پته ده چې زه د "انجام " كوم كركټر

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم نه يم او د هيومن اناټومي او سوشيولوجي طالبِ علم ته د جنس د تفريق څه اهميت دی. نو بيا آخر ولې هغه زما د پاره شجرِ ممنوعه وه يا زه د هغې د پاره ناسور!!!.

Pukhto.Net
پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مشيني دور انسان چرته بيايي**

د وليم د ډېوډ سره دومره مينه وه چې وليم به هروخت ويل: زه تا په هر قيمت خپلول غواړم. ډېوډ به هم په شروع کې د هغه په دې خبره لږ څه توجه کوله. خو کله چې د وليم اصرار د حد نه واوښت نو ډېوډ د هغه په نفسياتي اړخ شك وکړ. آخر يو نر هم د بل نر سره دومره مينه کولی شي ؟؟؟.

وليم هم څه کم ښائسته نه و. د پوهنتون په جينکو کې خو دومره مقبول و چې زياتره پرې ستي پټي وې. خو سره د دومره ښکلا هم هغه ډېوډ خپلې دوستۍ ته مائل نه کړی شو. او مائل شوی به نو څنګه وی چې کله به ډېوډ لږ هم ورسره نرمه رويه وکړه او ورسره به په يوې خواته کښ‌ی‌ناست نو بيا خو به لکه د ژورې ورپورې نښتی و. دوليم همدې عادت ډېوډ د هغه نه زړه توری کړی و.

وليم چې خپله بې چارګي وليدله نو د يو دوست په مشوره يې عبادت ته مخه کړه او هره يکشنبه به چرچ ته تلو. هغه په ژړا ژړا د خدای نه د ډېوډ التفات وغوښت. هغه صدقه خی‌رات ورکول هم شروع کړل. روزانه به د لس پنځلس خېرمارو جامونه دده په غوړځی‌دلې سِکه تِنګ‌ی‌دل. ډېوډ د وليم په زړه کې دومره ننوتی و چې وليم صرف دا نه غوښتل چې ډېوډ يې يو حقيقي دوست شي بلکه هغه د ډېوډ ملګرتيا ديوې ښځې خاوند په څ‌ی‌ر غوښته چې د ژوند ټول رازونه يې شريك وي او په يو بل کې جذب شوي وي.

يوه ورځ وليم د جينيټيکي بدلون په هکله ولوستل چې د جديدو سائنسي وسائلو په مرسته سړی کولی شي چې ځان په ښځه او ښځه کولی شي چې ځان په نارينه بدل کړي.

د شپې چې د خوب په نيت خپلې کوټې ته ننوت نو دډېوډ خيالونه پرې بيا راووربېدل. آخر هغه څنګه کولی شي چې ډېوډ د ځان کړي.

هغه په دې سوچونو کې و چې د ننني درس موضوع يې په ذهن کې راوګرځ‌ی‌ده. ددې خيال راتګ وليم ته يو څه نفسياتي خوشحالي وبخښله. اوټوله شپه يې ددې عمل په هکله په فکرونو ت‌ی‌ره کړه. وليم د خوشحالۍ نه په جامو کې نه ځائيده. د هغه پلان د هره پلوه کامياب و. هغه په ډېره آسانۍ کولی شو چې په نزدې جينيټيکي مرکز کې ځان په ښځه بدل کړي او خپل ټول کره وړه داسې جوړ کړي چې بواځې يې د يوې حسينې جينۍ نه توقع ك‌ی‌دی شي. بيا به پوهنتون کې په نوي نوم داخله واخلي او دډېوډ د عاشقانه مزاج نه په ګټه اخيستو د هغه سره يو پائدار محبت وکړي او بيا محبت خپل انجام (واده) ته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهار ولیم د یونیورسټۍ په ځای ډاکټر ته ورغی اوخپله اراده یې ښکاره کړه. ډاکټر چې دده خبره واورېده نو هغه یې د لاس نه ونیو اود ډاکټرانو یو بورډ ته یې وړاندې کړ. هلته ده ته ددې عمل د تیاره اړخونو په هکله معلومات ورکړل شو. هغه ته وویل شو چې دا کار ډېرې ستونزې لري او ډېر کم خلک بیا خپل لومړي حالت ته راوستل شوي دي.".

ولیم په پوره اشتیاق وویل: "ډاکټر صاحب! ما په خپل نارینه ژوند کې ډېرې تودې سړې لیدلي دي. زه نور بې‌خي د نارینتوب نه تنګ یم. که ریښتیا ووایم نو همدا نارینتوب دی چې زما د یو لوی آرمان د پوره کېدو په لاره کې خنډ دی."

"ـــ ښه نو چې داسې ده راځه". د ضروري کاغذاتو د ډکولو نه وروسته اپرېشن وشو او ولیم په ښځه بدل کړی شو. بیا ورته څو ورځې په هسپتال کې د پاتې کېدو وویل شو. هغه دومره خوشحاله و چې ټول وخت به یې په خپلو نرمو نرمو لېچو او ښکلو انګیو لاسونه وهل. دهغې نوی نوم ...... الزبت جېن ...... څومره ښائسته و.

څلورمه ورځ چې مینه ناک ولیم په داسې حال کې چې د ډېوډ د وصال آرمان او د بې مثاله خوشحالیو احساس یې په زړه کې و د هسپتال نه راووت نو سترګې یې په مخامخ اخبار والا ولګېدې. ډېرې ورځې د دنیا د حالاتو نه بې خبره پاتې شوی و.

اخبار یې چې پرانیست نو یوه داسې زړه چاؤدونکې چغه یې د خولې نه ووته چې پورته شو او په ځمکه ولګېده ....... ډېوډ پوهنتون ته په لاره په یوه ټرېفیکي پیښه کې مړ شوی و.!!!

د ډېوډ مړینه د مرګ په دې ګرم بازارۍ کې کومه لویه واقعه نه ده. بلکې د خفګان ځای دادی چې انسان چرته ددې خواهش ونکړي چې نیم دې انسان او نیم دې ځناور شي. یا دا چې په مکمله توګه دې خر او یا غوایي شي چې د انسانیت د اوسني معیار نه فرار اختیار کړي او د خودکشۍ په ځای چرته د غره په لمن کې څرېدو ته ترجیح ورکړي.

Pukhto.Net
پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ذکر د ځمکې

### 22اپریل

نن د ځمکې نړیواله ورځ ده. په ټولو چینلونو د ځمکې د مشکلاتو ذکر دی اود هغې د حلولو فکر ما سوچ وکړ چې ورځ د ځمکې لمانځل کیږي اونمایندګي یې انسانان کوي ، دا څنګه لمانځنه ده. دوی ته پکار ده چې ځمکه یې د خپلې ورځ لمانځلو ته پرې ایښې وی یا یې د ځمکې خبرو ته غوږ ایښې وی چې هغه په دې هکله څه وایي او د هغې څه جذبات دي.

ددې کار دپاره ما داسې چل وکړچې د ښار په مضافات کې واقع لویې هدیرې ته لاړم چې د زمانو زمانو راهیسې په کې مړي دفن شوي او د ځمکې لویه حصه یې نیولې ده. هغلته ځمکې ته د قربت او د هغې سره د مرکې په نیت یو سوري شوي قبر ته ننوتم او سترګې مې پټې کړې. د سلام کلام نه وروسته مرکه شروع شوه:

سوال: "نن ستا نړیواله ورځ ده — ته څه محسوسوې؟"

جواب: "عجیبه خبره ده ولې دا نورې ورځې نړیوالې نه دي څه چې زه یې د خپل مشقت په نتیجه کې راولم. دا تخصیص بې‌خي احمقانه دی. هره ورځ زما عالمي ورځ ده او د ټول عالم له پاره ده".

سوال: "خو دا ورځ ستا د مسائلو دپاره نومول شوې ده چې ستا مسائل څه دي. مثلاً د اوبو کمی ، د هوا ککړتیا ، او د خلکوډېرښت وغیره... "

جواب: "دا زما مسائل نه دي. زما په سر یې خلك ولې راتپي. که هوا او اوبه کم دي یا ګنده دي نو له دې سره زما څه اړیکه ده. خلك ډېر دي او که کم ، په ما یې څه بوج نشته دی. زما اوس هم ډېره حصه خالي ده".

سوال: "نو که د ځمکې د نړیوالې ورځ اصطلاح غلطه ده نو انسانان یې ولې ستا په نوم لمانځي؟"

جواب: "انسانان خو هغه مخلوق دی چې په کوم لوښي کې وخوري نو په همغه کې پښه ږدي. مسائل یې خپل دي ، ژاړي یې زما په نوم. — زما ددې ورځې سره هیڅ تعلق نشته".

سوال: "ستا د خبرو خو دا مطلب نه دی چې ستا د انسانانو سره هیڅ رابطه نشته او نه د هغوی په هکله بې حسه یې؟"

جواب: "د دوی په وجود کې زما ماده شامله ده نو ځکه د دوی خیرخواه یم".

سوال: "نو دوی چې دا ناکاره کارونه کوي او ستا په سینه یې فساد برپا کړی دی نو په دې کې خو چرته ستا ددې مادې غلطي نه ده یا ستا لاس خو پکې نه دی شامل؟"

جواب: "که داسې وی نو زما په داخل کې به هم د بدۍ وجود وی او ما به بد شهرت لرلی. ما سره د دوی نه مخکې پیریانو هم ژوندکړی دی چې یو جدا مخلوق دی. هغوی هم بد رواج کړل او د شر ملګرتیا یې وکړه".

سوال: "ستا او د انسان ترمنځ څه رشته ده؟ ګاونډیتوب دی ، کوربه توب دی او که ته د هغوی ملکیت یې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواب: "ما ورته صرف د لنډې مودې دپاره خپل خدمت وړاندې کړی دی. دوی کردارونه دي او زه سټېج. د ډرامې د اختتام نه وروسته مونږ په يو بل پورې نه يو تړلي".
سوال: "د اشرف المخلوقات د رتبې په هکله دې څه خيال دی؟"
جواب: "دا زما مسئله نه ده. ځکه چې زما ترجيحات بدل دي. دا پوښتنه د خرو، غوايانو، پېشوګانو او داسې نورو په مخکې ايښودل کېدی شي".
په دې وخت کې زما نظر په قبرکې په يو اشرف المخلوقات ولګېده چې اوږد غزېدلی و او تش د هډوکو ډانچه پاتې وه ...ما پوښتنه وکړه:
- "دده په هکله دې څه خيال دی اوتا ورته پناه ولې ورکړې ده. آيا دا ستا په ذمه وارۍ کې شامل دي؟"
جواب: "دا خو چې کوم اشرف المخلوقات د شرافت د کثرت تاب را نه وړي نو د باعزته شاباسي دپاره يې زما غېږې ته راوړي. ځکه چې دوی ته پته ده چې زمونږ اصل ځمکه ده او ځمکه ځان نه شرموي".
سوال: "وخت څه شی دی؟ آيا ته د وخت احساس کولی شې؟"
جواب: "وخت زه زېږوم. بلکې زما حرکت او وجود د وخت د پيدائش او پيمائش دپاره دي. خو زما ورته خپله څۀ ضرورت نشته ځکه چې وخت د ټوټې‌دونکو خواهشاتو د پوره کېدو د انتظار نوم دی. او دا انتظار نور کوي زه نه".
په دې وخت کې ما سره سوالونه خلاص شو له مننې کولو نه وروسته زه بهر ته راووتم او د ځمکې په سر راروان شوم. ماچې شا او خوا وکتل نو هر طرف انسانان د بيلابيلو کردارونو په شکل لګيا وو او سټېج ته يې د خپلې آداکارۍ جواهر ښکاره کول.
زه په سوچ کې شوم چې دا آداکاري د دوی جبلت دی، ضرورت دی او که ناداني.

Pukhto.Net پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**حاجت**

یو ځل د ځمکې د مخ په یوه حصه کې دوه کورونه آباد وو. یو کور ښه اعلٰی او په نوي طرز جوړ شوی و چې د بل کور قطب طرفته پروت و. د کور ضرورتونه لکه د خوراك ځښاك لوښي ، رنګارنګه جديده مشينري ، فريج ،فريزر ، ګاډي ، حفاظتي وسله او نور ډېر شيان پکې وو. او په بل کور د الله تعالٰی دا مهرباني وه چې ښې شايسته ګرمې نرمې اوبه ورته نږدې بهېدې. ددې کور خلکو به چې دهغې بل کور حساب او کتاب ولیده نو ذهنونه به يې مرګي مرګي شو. او د هغې کور خلکوبه چې ددې کور په خوا کې ګرمې نرمې رارواني اوبه ولیدې چې د دنيا ټول نعمتونه يې را په مخه کړي دي نو خولې به يې اوبه اوبه شوې.

آخر د هغې کور خلکو صلاح په دې وکړه چې ددې کور په منځ کې لاره ويستل پکار دي. او دې اوبو ته په څه چل ځان رسول پکار دي. خوستونزه دا وه چې د هغې کور د خلکو جامې تکې سرې وې او ددې بل کور تکې شنې. ړوند ته هم ښکارېده چې هغه دی سور په شنو کې راننوتی دی او د چادر او چارديوارۍ حقوق يې مات کړي دي. ددې ستونزې د پاره سرو دا حل راووېسته چې د اوبو د غاړې د کور د خلکوجامې بدلول پکار دي. ددې غرض د پاره هغوی دې کور ته ډېرې جامې هم راولېږلې خو مشکل دا و چې کوم کس نيم به چې واغوستې نو هغه به پکې څه عجيبه شان ښکارېده.

د هغې کور خلکو چې په دې کور کې دوه درې سره وليدل نو راهئ يې کړل او هره خوا يې درز دروز شروع کړ. هغوی په لاسونوکې سره سره ټوپکونه هم راخيستي وو. ددې کور خلکو چې دا حالت وليده نو د خدای کار ود کومې خوا نه يې څه سپين غوندې ټوپکونه راپيدا کړه او په مزاحمت يې شروع وکړه. په دې وخت کې په دې کور کې دوه درې مېلمانه هم وو. هغوی هم په جنګ کې برخه واخيسته خود هغوی په ټوپکونو کې څه چل و چې ډز به يې وکړ نو کله به د سور د ښي غوږ سره تېرشو او کله به د چپ.

نتيجه دا شوه چې د کور ځمکې ډېرو لاشونو وازده ويلې کړه او فضا يې ډېرې جندې ، بېرغونه وربول.کورکنډر شو اووسېدونکي يې يو خوا بل خوا تيت او برك شول. سرو هم ماتې وخوړه او خپل دېوال يې څلور پنځه قدمه وروسته کړ.

بيا ډېره موده په کنډر کې دناديده قوتونو زور آزمايي روانه وه. او رنګ رنګ نعرې آوازونه پکې واورېدل شو تر دې چې پردي خو لا پرېږده چې ددې کور خپلو سکه ګاونډيانو پکې هم د ګاونډيتوب جنازې وويستې او ددې په مړو يې د تجهيز او تکفين چندې راجمع کړې........ آخر آوازې خورې شوې ، ډمامې وغږېدې ، خبرې زور واخيسته چې دا کنډر به بيا آبادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټولو تر مخه يو پخواني وس‌ي‌دونکي د کوټ ، پتلون ، ټايي او بريف ک‌ي‌س سره کنډر ته داخل شو. هلته منظر څهٔ بل شاني و. د کنډرې په نيم پرېوتو دېوالونو لاود‌سپ‌ي‌کرونه رازړوند وو. او په زور و شور سره يې د کنډرې د آبادۍ چغې وهلې. د کور ټول چتونه غورزېدلي او بلۍ يې نړېدلې وې. د ټټۍ چت څه نه څه روغ وو او د انساني حاجت د پوره کولو جوګه وه.

په کنډر کې قطب طرف ته يوه توره کرښه راښکل شوې وه چې هماغه درې م‌ي‌لمانه ترې راواوښتل ، راتلونکي کس ته يې هرکلی ووې او ب‌ي‌رته له کرښې واوښتل او يو بل ته مخامخ کښ‌ي‌ناستل. صاحب د ټولې کنډرې جايزه واخيسته او بيا راغی د کنډرې په ټټۍ ورننوت ، همغلته يې پکې واړول او خپل حاجت يې پوره کړ. لږه ش‌ي‌به وروسته څه پرس‌ي‌دلي خلك چې د شکلونو نه غله ښکارېدل په کنډررانووتل او په کنډر کې يې ځانونه يو خوا بل خوا ځای کړل. په دې کې يو بل شخص چې څه خړې شان جامې يې اغوستې وې او د واسکټ په ج‌ي‌ب کې يې درې څلور کتابونه منډلي وو اوپه خوله يې يوه ترانه زمزمه کوله کنډرې ته داخل شو. هغه لومړی اوتر اوتر وليدل اوبيا راغی د يو متروك کوهي د سر تيږه يې ليرې کړه. لاندې څه ګورې چې لغړ ولس د لوږې د لاسه په يو بل خولې لګولې دي او د کوکو او چغو يو قيامت جوړ دی.

دې سړي چې دا حالت وليده نو دواسکټ د جيب نه يې دوه درې کتابونه لاندې وغورځول او په کوهي يې بيرته تيږه ک‌ي‌ښوده. په دې وخت کې د کنډر نه بهر د جوش نه ډك مستانه آوازونه واورېدل شول او دهرې لورې نه د ځوانانو يو بهير کنډرې ته داخل شو. دا د کنډرې نوی نسل و چې د کنډرې نه دباندې رالوی شوی و. د دوی جامې تقريباً يو شی وې. خو دومره وه چې د خبرو کولوپه وخت به هر يو خوله په بدل انداز کې خوزوله. دوی لا په دې خوشحالۍ کې وو چې د کنډرې په وران ويجاړ حالت يې نظر شو. د هغوی په خوله يو دم د چپ مهر ولګ‌ي‌ده اوخولې يې وازې پاتې شوې. هغوی ډېر زر پوه شول چې د دوی د بدن او د دوی د خاورې ترمنځ څومره فرق دی.

د ډېر سوچ نه پس هغوی راټول شو اوپه شريکه يې يو يادداشت وليکه چې د کنډرې آبادي يې د سر ټکي و. هغوی په يادداشت غور کولو چې په دې کې يې د کنډرې په يو کونج کې په يو درويش منصبه سړي سترګې ولګ‌ي‌دې چې په ذکر اذکار مشغول و . دوی چې هغه وليده نو خوا ته يې ورغله او په مؤدبانه لهجه يې وويل: "محترمه! ......زمونږ يو حاجت دی ".هغه غاړه تازه کړه او د جاينماز د لاندې نه يې يو پړقېدلی چاقو راوويست او ګوياشو: "زما هم يو حاجت دی او ستاسې هم ______ راځئ چې په هغه ټټۍ حمله وکړو. ستاسې حاجت به پکې هم پوره شي او زما هم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوانانو چې دده چاقو ولیده نو دالاره یې خوښه نه شوه. له هغه ځایه چې راستانه شول نو سترګې یې د کوهي په غاړه په ناست سړي ولګېدې. دوی ټول هغه ته ورغله او په شریکه یې ورته یادداشت وړاندې کړ.هغه سړي یادداشت واړولو راواړولو او ویې ویل: "تاسې آخر څه وایې؟". دوی وویل: "صاحبه!_____ زمونږ یو حاجت دی او هغه دا چې مونږ ددې کنډرې آبادي غواړو". هغه سړي لومړی د لاوډ سپیکرونو اعلانونو ته د ددوی توجه واړوله او بیا یې د جیب نه څه رساله مجله راوویسته اوچپه یې مخې ته ونیوه. لږه شېبه یې سروخوځولو او بیا یې وویل: "باالکل زما هم همدامرام دی. د کنډرې آبادي زمونږ آبادي ده. او زمونږ آبادي ستاسې آبادي ده. یعني دکنډرې آبادي د ټولو شریك حاجت دی. او تاسو خو پوهېږئ چې حاجت روا هغه ټټی ده. اودا حاجت به مونږ ، تاسې او په دې کوهي کې پروت باشعوره ولس په شریکه د صاحبِ ټټی نه پوره کوو."

ځوانانو چې د دانایي دا انتهاولیده نو له ده نه هم روان شو. لږ مخکې چې لاړل نو سترګې یې په هغه کرښه ولګېدې.هغوی څه شېبه کرښې ته ولیدل او بیا په کرښه ورواوړېدل. څه ګوري چې هاخوا د درې کسانو د ناستې ځایونه دي او ترمنځ یې ډېر کاغذونه له نقشو سره ګډوډ پراته دي.

په کاغذونو بېلابېل عنوانات لیکل شوي وو. خو د ټولو مجموعي نکته دا وه چې کرښه راښکونکو غوښتل چې په څه نه څه شکل دکنډرې قطبي خوا له کنډرې نه بیله کړي. وجه یې دا ښودلې وه چې زمونږ یې په کنډره څه. مونږ خو مېلمانه خلك یو زور یې بل چا ته رسي.

په ځوانانو چې د سوچ دا نوې زاویه روښانه شوه نو زړونه یې ودرزېدل او په یادداشت کې یې د څو نکاتو اضافه وکړه او په یوه صلاح راغله او د ټټی مخې ته ودرېدل. هغوی چې ټټی ته سر ښکاره کړ ، څه ګوري چې هغه درې مېلمانه او همغه بد نامِ زمانه سره د صاحبِ ټټی سره یو ځای د دومره پیسو په منځ کې ناست دي چې څه حد یې نه و.

دوی په دې سوچ کې شو چې آخر دابېلتون خوښي او سورمخي کوم حاجت ټټی ته راوستي دي. هغوی په خپلو کې څه خبرې هم کولې خو دوی برې پوه نه شو. لنډه دا چې دوی فیصله حتمي کړه او یادداشت یې دننه ولېږه ، لږه شېبه پس د ټټی دروازه خلاصه شوه او یو پړسېدلی بریف کېس بهر ته وغورځېده.

د کنډرې په دېوالونو رازوړندولاوډ سپیکرونو په زوره زوره چغې وهلې: "دا کنډره به آبادېږي ، دا به کور کېږي. ددې ټول استوګن به بیرته راځي. دلته به ډېر زر وروري ،خوشحالي ، ترقي او پوهه بیرته راشي". خو د کنډرې په منځ کې ولاړ حیران و پرېشان نسل تر اوسه په دې پوه نه شو چې دا کنډره به آبادېږي او که نیم پرېوتي دېوالونه به یې نور هم پرېوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تعلیم ښه شی دی**

لاندې څلور واقعات ولولئ او د تعلیم د اهمیت نه خبر شئ:

(۱) نوم: صنوبر خان

جنس: نارینه

عمر:۳۵ کاله

تعلیم: مکتب او مدرسه یې نه ده لیدلې.

(۲) نوم: زرلښته

جنس: زنانه

عمر: ۳۰ کاله

تعلیم: ۶ پاس

خبر: پرون د دوی په کور کې غټه لانجه وه. صنوبرخان په زرلښته یو لاس مات کړ. ګاونډیانو ډاکټر ته بوتله.

تحقیق: مونږ چې کله تحقیق وکړ نو معلومه شوه چې د دوی یوه لور ناروغه وه. دواړو زړې نسخې را اخیستې وې. صنوبر به یوه یوه نسخه را ا خیسته او زرلښتې به دا مهرباني کوله چې د ډاکټر نوم به یې لوسته. دې وخت کې د صنوبر نه نسخې ګډې وډې شوې او دویم ځلې یې بیا د هغې مخې ته ونیوې. په دې واقعه زرلښته سره شوه او په یو شنګ پورته شوه او په بې اعتنایی سره یې میړه ته څه ناموزون الفاظ وویشتل. صنوبر چې د ښځې پاره ناڅاپه په لوړیدو ولیده نو د ترمامیټر یو لاس یې مات کړ.

(۱) نوم: باران خان

جنس: نارینه

عمر:۵۵ کاله

تعلیم: تعلیم نه لري.

(۲) نوم: بلورۍ

جنس: زنانه

عمر: ۴۰ کاله

تعلیم: تعلیم یې نه دی کړی

خبر: خیر خیریت د ی قلاره قلاري ده.

تحقیق:غالباً دده نوم بهرام خان دی خو په غلطۍ سره باران مشهور شوی دی. خلك ورته بارانی ماما وایي. خو دلته د لفظ د تقدس په خاطر باران خان لیکل شوی دی. غټه خبره داده چې د ښځې یې په نوم څه اعتراض نشته او نه دده په ګډه وډه موندۍ ړیره کې لا د بلورۍ چارګل نښتی دی. د جمعې په ورځ چې ولامبي او سر ږمنځ کړي نو بلورۍ ته د اختر ورځ رایاده شي. دغه شان هر ماذیګر چې باران د فروټو ړیره د بل په دکان کې ودروي او پاتې نیمې روغې نیمې ورستې مڼې په لفافه کې واچوي او د کور په سرحدونو کې داخل شي نو بلورۍ ته داسې ښکاره شي لکه چې ټول کاینات راغی. او چې بلورۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله کړه خوله مسکا راولي نو د باران زړه د ډکو ګورو وریځو په شان په تخنیدو شي او په شرق شرق د وریدو لیواله شي.

(۱)  نوم: محمد انور خان
جنس: نارینه
عمر:۴۵ کاله
تعلیم: د یونیورسټي آف میساچوسټس نه یې په فلسفه او عمرانیاتو کې ډاکټري اخیستې ده. اوس د UNO لخوا په هغه ټیم کې شامل دی چې د نړۍ د تهذیبي زوال د عواملو په موندلو کار کوي. د تهذیب او کلچر ترمنځ د تفاوت او رشتې په هکله یې یو کتاب چاپ شوی دی. شاعري یې کمزورې ده .
(۲)  نوم: جان بي بي
جنس: زنانه
عمر: ۴۰ کاله
تعلیم: تعلیم یې نه دی لیدلی.
خبر: څه خبر نشته.
تحقیق: زه چې کله دده شاعري ګورم نو سوچ کوم چې دا شونډې او زلفې د جان بي بي یادوي او که په خپل ټیم کې د کومې تعلیم زېلې پیغلې. د حیرانۍ ځای دادی چې دا آسمان او ځمکه څنګه سره غاړه وتلي دي او ترمنځ یې کوم یک بینک څنګه نه رامنځته کېږي. جان بي بي چې د مور کور ته لاړه شي نو د میړونو د صفت په ټولي کې ددې وینا وي."هغه زمونږ سړی خو چې کله په کور وي نو ټوله ورځ د کتابونو نه تاو وي. چې ده په دې کتابونو کې څه شی لیدلی سرخوړلی. یو کتاب به یې لا خلاص کړی نه وي چې بل به راواخلي. ډېرو کتابونو ته په یو ځل ګوري."
جان بي بي د میړه د لر او بر نه خبره نه وه چې ناست په کور دی او نظر یې په ټوله دنیا دی. ګویا جان بي بي هغه خړه پړه آیینه ده چې د میړه د پرمختګ یا په شاتګ هیڅ انځور پکې نه منعکس کېږي. ..... د خدای ورکړه ده.
(۱)  نوم: جهانزیب
جنس: نارینه
عمر:۲۸ کاله
تعلیم: ۸ پاس.
(۲)  نوم: جهان آرا
جنس: زنانه
عمر: ۳۴ کاله
تعلیم: ۱۲ پاس
خبر: جهان آرا جهانزیب په اوله میاشت طلاق کړ اوس یې د زوی په سر لانجه ده.
تحقیق: واقعه داسې ده چې جهان آرا بنت عمرشاه چې معقول شکل و صورت لري ډېرې مرکې مسترد کړې او ډېرو خلکو ته یې لفټ نه دی ورکړی. حال دا چې ددې د درجې برابر خلك خو شا او خوا په

Pukhto.Net

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلو دلو پراته وو. خو دې خدای خبر کوم بهرام ګور د آرمان په هنداره کې ليدلی و. الغرض اوس د مرکو راتګ بند شوی او پلار د صلاح مشورې نه بغير جهانزيب ولد شاه نواز ته ورکړې. نتيجه دا راووته چې جهان آرا د دوه شپو د غويمنځ نه پس په عدالت کې درخواست وکړ او طلاق يې حاصل کړ او دغه شان يې د جهانزيب هني مون په بلډي مون بدل کړ. اوس اته نهه مياشتې تيرې شوي او د جهان آرا زوی پيدا شوی. جهان آرا وايي دا د جهانزيب زوی دی نفقه دې راولېږي. جهانزيب وايي چې زما پراسيسر دومره تېز نه دی چې زوی به راوړم او نه دده کوم ځای ماته دی چې زه يې نفقه درولېږم. زمونږ خو په ټول نسل کې شنې سترګې او پلن تندی نه دی نصيب شوی نو دا صاحب د کومې خوا نه زما زوی شو.... لانجه اوس هم روانه ده.

د پورته واقعاتو نه معلومه شوه چې تعليم واقعي ډېر ښه شی دی.

Pukhto.Net پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تالاب**

زما د دفتر په لاره کي يو تالاب دی. د څو ورځوراهيسي د هغې اوبه وچي شوي او ماهيان پکي مري. زه نن هلته څه شيبه ودريدم او د مړه کيدونکو ماهيانو نظاره مې وکړه. کوم چي مړه شوي وو نو د هغوی سپينو بدنونو د تالاب د تورو اوبو مخ روښانه کړی و او کوم چي مړه کيدل نو دهغوی د بسمل حالت حرکتونو د تالاب په اوبو کي د ژوند شور پيدا کړی و. ما د تالاب په غاړه د غزې په اوسني حالت ډير وژړل او کولمو مي د خپل پښتانه په غم درد شروع کړ. ما احساس کړه چي دلته ژوند څومره تريخ دی او چاپيرچل زمونږ د وړو بچوړو له پاره څومره تور دی. زه چي روان شوم نو زما لاسونه او پښي هم خوځيدل او شاوخوا ته يې زما د وجود احساس ورکاوهٔ.

۲

په تالاب کي مي نن عجيبه ننداره وليده. ژونديو ماهيانو د مړو په جسدونو خولي لګولي وې او هر يود خپلې خيټي د ډکولو په غم کي و. داسې ځوک نه وو چي دوی ته يې د لاش د حرمت په هکله يادونه کړی وی او يايې د حلال حرام تميز ورپه ياد کړی وی. ما وليدل چي تالاب ته ډير غلاظت او د مختلفو کورونو ګندګي هم وراچول شوی وه چي هغی هم د اوبو په مشکلاتو کي اضافه کړي وه او خامخا به د کوم ماشوم ذهنه سړي کار و. نن د تالاب داوبو نه بدبويي راخته او چا نه شو کولی چي هلته ډير ودرېږي نو ځکه خو زه روان شوم.ددې خبري معلومول ګران وو چي دا تعفن د مړو شوو ماهيانو د بدنونو دی او که د حمله آورو د بد عمل نتيجه!!!

۳

نن چي زه دفترته په لاره وم نو حيران وم چي څنګه به د تالاب نظاره کوم. په چا کي چي لږ هم زړه وي نو د ماهيانو دې حالت ته نه شي کتلی چي ټولو خولې د اوبو سرته راويستلي وي او د اکسيجن د لاسته راوړو له پاره مشکله لاره اختياروي. ټول داسې ښکاري لکه امريکې چې د اختر په ورځ صدام راځوړند کړی وي او خپل ټول حسابونه يې برابر کړي وي.
ما د جيب نه هغه دوا راوويسته او تالاب ته مې واچوله چې ماهيان وژني او بيا يې خلک رانيسي. زه خوشحاله شوم چې څه دوی مې د ددې عذاب نه خلاص کړل او ځان ته مې ددې ثواب مبارکي وويله. هوبهو داسې لکه ددنيا ملکونه چې نعرې وهي چې افغانان د مشکلاتو نه راوباسي او ددې سيمې خلکو ته نجات ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**انسان نما**

عبدل غوټه راواخیسته. چې خلاصه یې کړه ، روپۍ وې پکې ښه ډېرې. سترګې یې وځلېدې ، پښې یې سستې شوې ، لاره یې بدله کړه او تېز تېز روان شو او بیا به خدای خبر شه دا د چابرکت و چې تر کوره یې راورسولې. په خپل کور لکه د غشي ورننوت ، ښځه یې د لاس نه ونیوه او کوټې ته یې په ځان پسې راښکله. ښځې یې چې پیسې ولیدې نو په مړ وجود کې یې ساه پیدا شوه. دواړو ښه ډېره شېبه روپۍ په لاسو کې واړولې راواړلې. بیا عبدل روپۍ د کوټې په یو کونج کې ښخې کړې او ښځې یې د کوټې په دروازه کې پهره کوله.

نن ورځ هسې په عبدل پورې ښه شوه ، ګنې دهغه ژوند خو د عبدالجبار د غلامۍ نه عبارت و. مزدوران به ښه په کار لګیا وو ، هر یو به د ځان او جهان نه بې پروا لکه مشین چلېدهٔ خو بیا به هم د عبدالجبار د بدوردو نه نه بچ کېدل.

هغه به چې د دروازې په څنګ کې ودرېده ، څېټه به یې راوویسته او تندر تندر خبرې به یې شروع کړې نو د دوی لاسونه به تېز شو او پښې به یې په ډېرو منډو وپړسېدې.

عبدل چې بس ته پورته شو نو کلینر شاته دیکه کړ او یوې ښکلې جوړې ته یې لاره ورکړه. عبدل چې د جینۍ ښکاره اندامونه او چست لباس ولیده نو سترګې یې ټیټې کړې. غټو خلکو ته لیدل هسې هم څه ښه خبره نه ده.

عبدل چې د بس په وروستي سیټ کښېناست نوسترګې یې یو ځل بیا په هغه جوړه ولګېدې. د هغوی ښویه مټې او روښانه مخونه یې چې ولیدل نو په لومړي ځل یې په زړه کې باربار دا خواهش تیر شو چې کاش!...... دده ژوند هم دغه رنګ وی. د افسوس خبره خو دا وه چې عبدل نه خو په ټول عمر کې چرته داسې لباس اغوستی و ، نه یې قدقامت دومره شاندار و او نه یې آواز دومره دروند و. تر دې چې ددغه انسان نما مخلوق د اوسېدنې د ځای په هکله یې هم څه واضحه تصور نه شو کولی.

عبدل چې کور ته راورسېده نو یو ځل بیایې ذهن پرېشانوونکو خیالاتو ونیو. د هغه سترګو ته به بار بار عبدالجبار او په بس کې ناسته جوړه رامخې ته کېدل او د خپل استطاعت نه بهر به یې سوچونه کول. داسې خلك هغه د لارې په سر هم لیدلي وو او د ښائسته او ښکلو موټرو د شیشو دننه یې پرې هم سترګې لګېدلې وې. هغه ته دغه رنګه خلك د انسانانو نه پورته یوه داسې طبقه ښکارېده چې هیڅ ډول غم او پرېشاني نه لري او نسل په نسل اعلٰی پیدا کېږي. ځکه خو یې په ځان پښه ایښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه او د خپل حالت نه يې ګيله نه کوله. خو نن خدای خبر ولې د هغه زړه را ډک شو او په ډېر شدت يې د ښه ژوند تمنا وکړه.

نن ټوله ورځ هغه د عجيبه شان ذهني کشمکش ښکار و. کار به يې هم کولو او خپل حالت ته هم فکر وړی و. د هغه په ذهن کې هسې داخبره ناسته وه چې دده سره چې څه کېږي ښه نه کېږي. هغه به چې هره خښته راپورته کوله نو زړه به يې غوښتل چې د عبدالجبار په سر يې ورووليږي.

د چای په وقفه کې مزدورانو عبدالجبار ته د نوې جوړې مبارکي ورکړه:

"-خیر دي وي ........دا بهرنی پيس دی ، ورور مې راستولی دی........ خو تاسې خپل کار کوئ. اخوا دېخوا ډېرمه ګورئ ..... پيسې درکوم څه سوال خو درته نه کوم."

عبدالجبارد زمري په شان وغرمبېد.

دعبدالجبار يو يو لفظ د عبدل په مزغو کې ځړيکې وکړې. ورځ تېره شوه ماذيګر چې کور ته روان شو نو د څه مزل وروسته يې په لاره کې يوه غوټه وليده. عبدل غوټه راواخيسته.چې خلاصه يې کړه ، روپۍ وې پکې ښه ډېرې. سترګې يې وځلېدې ، پښې يې سستې شوې ، لاره يې بدله کړه او تېز تېز روان شو او بيا به خدای خبر شه دا د چا برکت و چې تر کوره يې راورسولې. په خپل کور لکه د غشي ورننوت ، ښځه يې د لاس نه ونيوه او کوټې ته يې په ځان پسې راښکله. ښځې يې چې پيسې وليدې نو په مړ وجود کې يې ساه پيدا شوه. دواړو ښه ډېره شېبه روپۍ په لاسو کې واړولې راواړلې. بيا عبدل روپۍ د کوټې په يو کونج کې ښخې کړې او ښځې يې د کوټې په دروازه کې پهره کوله.

بيا نو لږې ورځې هم نه وې تېرې شوې چې دعبدل نوم په عبدالقهار بدل شو او ځانته يې په ښار کې د بنګلې د پاره ځمکه واخيسته او مزدوران يې پرې واچول. عبدالقهار به هره ورځ د کار ليدلو ته راته. يوه ورځ چې دخپل شېورلېټ نه کوز شو نو په يو خاص انداز راغی او د دروازې په خوا کې ودرېد ، څېټه يې راوويسته او په بدوردو يې شروع وکړه. مزدروانو چې د دروازې په لور وکتل نو دکړو سولېدلو ښو او ګردجنو سترګو په وړاندې يې يو لوړ دړنګ انسان نما مخلوق ولاړ و____________ هغه چې نسل په نسل اعلی پيدا کېږي او هيڅ ډول غم او پرېشاني نه لري.

Pukhto.Net پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کاروبار**

د شپې ټیك دولس بجې یو یخ وجود په ځمکه راپرېوته او بل ګرم وجود ترې مخ واړولو او روان شو. بله خوا ډېر لاتعداده وجودونه د کورونو نه راووتل او دېخوا یې رامنډې کړې.......

قاتل چې خلك ولیدل نو سمدستي په یو لویدلي قبر کې پټ شو. دې وخت کې پولیس هم راورس‌ی‌دل او د رارس‌ی‌دو سره سم په هدیره ورننوتل او په څو شېبو کې یې قاتل ګرفتار کړ.

د اوړي اوږدې ورځې وې ، خلکو به چې د تولې ورځې ګرمي وګالله نو د شپې به داسې وغزېدل چې دنیا به وران‌ی‌ده نو غږ به چا نه اورېده. په همدې شپو کې د زېړي ګل د کور غلا وشوه او داسې وشوه چې په لږ وخت کې سوال ته کښ‌ی‌ناست او بدې ورځې یې شروع شوې.

یوه ورځ پرې د احمد میا ص‌ی‌ب زړه خوږ شو ، ورته ویې ویل:"خپل مې یې ، زړه مې دربانديې خوږېږي. راځه چې یو چل درته وښایم دا ګوذاره به دې لږه روانه شي ".

احمد میا زیاړي ګل کور ته د ځان سره بوتلو او څه ضروري طریقې مریقې یې ورته وښودلې. بله ورځ سحر چې خلك د کورونو نه راووتل ، نو په هر دېوال یې په یو اشتهار سترګې ولګ‌ی‌دې:

روحاني علاج

عامل سیّد زېړي شاه بابا

د هر قسمه سحر و جادو وغ‌ی‌ره شرطیه علاج

بیا نو لږې ورځې هم نه وې ت‌ی‌رې چې په زېړي شاه خلك رامات شول. زېړي شاه به د کور په یوه ښکلې کوټه کې ناست و ، اوږدې تسپې به یې په لاس کې وې. او د ږیرې نه به یې د عودو او مشکو ګډې وډې خوشبویي ګانې په هوا کې خورېدې. له زېړي شاه سره د هرې ناروغۍ علاج موجود و. د ک‌ی‌نسر ، پښتورګو درد ، رسولۍ ، زېړي ، بې اولادۍ او ناکامه عشق د پاره به هغه تعویذونه راویستل او ځاښتونه به یې لیکل. لومړی خو د هغه په تعویذونو د چا باور نه راته ، خو کله چې خلکو ولیدل چې هغه ورسره پخپله ځي او تعویذونه راوباسي نو عالَم په راچل‌ی‌دلو شو او په زېړي شاه د روپیو باران جوړ شو.

زېړي شاه به د هر ناروغ سره پخپله تلو او کومه هدیره به یې چې ورته ښودلې وه ، په هغې کې به یوې خواته کښېناست او مراقبه به شو. دم دعا به چې وشوه نو یوې خواته به روان شو. په یوه قبر به یې لاس ک‌ی‌ښوده او یو ځای به یې په کې په نخښه کړ. د ناروغ سره راغلو کسانو به چې هغه ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوسپره نو یو تعویذ به یې ترېنه برآمد کړ چې د ډېرو ګڼو وډو کرښو نه به ډك و او ستنې به په کې ټومبل شوې وې. زیړي شاه به بیا مراقبه شو او د مراقبې نه وروسته به یې په بل قبر لاس ﻟﮔﯼښوده. د هغه نه به هم یو تعویذ راوویستل شو.

د زیړي شاه په مریضانو کې ډېر تعداد د ښځو و چې خپلو خواښې ګانو ، یوورګانو او انګورګانو به پرې تعویذونه کړي وو.

د زیړي شاه کاروبار ښه په ترقۍ کې شو.تر دې چې خلکو د شاه او خوا نور سیدان او پیران پرېښودل او په ده رامات شول. احمد میا چې دا حال ولیده نو د یو ځنګل دې بل زمري ته یې خره کړه.

یوه شپه په داسې حال کې چې زیړي شاه د لاندې کلي په لویه هدیره کې په قبرونو کې تعویذونه ښخول او د نخښې د پاره به یې پرې توره تیره ﻟﮔﯼښوده ، احمد میا ورته په کوپړۍ تمانچه ﻟﮔﯼښوده او چې څو زیړي شاه ځان خوځولو..... ګولۍ یې د سر نه ووتې.

Pukhto.Net
پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**